# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٤۸ ګڼه / پنجشنبه ۳۰ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۲۰ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۰۹ می ۲۰۲٤ میلادي


## اعلامیۀ امارت اسلامی افغانستان در پیوند به حملۀ وحشیانه رژیم صهیونیستی به شهرک رفح

امارت اسلامی افغانستان بمباردمان وحشیانه بر شهرک رفح غزه از سوی رژیم صهیونیستی را به شدیدترین الفاظ محکوم می کند.

شهرک رفح آخرین شهر در جنوب غزه می باشد و در آن در جریان شش ماه جنگ و بمباردمان به تعداد ۱.۴ میلیون مسلمان فلسطینی بیجا شده از شمال غزه، غزه مرکزی و خان یونس در شرایط دشوارساکن شده اند و در ترس و وحشت زندگی می کنند. اکنون یکبار دیگر رژیم اشغالگر صهیونیستی برخلاف تمام اصول بین المللی به جنایت بزرگ دست زدند و با بمباردمان بی رحمانه، مسلمانان فلسطینی را هدف قرار دادند.

امارت اسلامی افغانستان این عمل را جنایت جنگی و کشتار جمعی مسلمانان فلسطینی می داند و یکبار دیگر بالای جهان اسلام و سایر کشورها صدا می کند که جلو این فاجعه را بگیرند و از هر راه ممکن تلاش نمایند که مواد غذایی، ادویه جات و کمک بشری به مسلمانان ... ص۷

ملي دفاع وزارت:

# د پاکستاني پوځ تورونه بې ځايه دي



د افغانستان ملي دفاع وزارت د عنايت الله خوارزمي له قوله په يوه خبرپاڼه کې د پاکستاني پوځ وروستي تورونه بې‌ځايه او له حقيقته لرې بللي دي.

د ملي دفاع وزارت وياند عنايت الله خوارزمي ويلي: د خيبر پښتونخوا په يوه داسې سيمه کې چې د پاکستان پوځ تر کلک امنيتي پوښښ لاندې ده د چينايي وګړو وژل کېدل د پاکستاني امنيتي ارګانونو کمزوري او يا هم له بريد کوونکو سره د دوی همکاري په ډاګه کوي چې په دواړو صورتونو کې يې مسووليت د پاکستان حکومت ته متوجه دی.

خوارزمي پر افغانستان... ۷مخ

## روز جهانی جمعیت هلال احمر؛

# رئیس‌الوزرا خواستار حمایت از فعالیت‌های بشردوستانه شد

همزمان با فرا رسیدن روز جهانی جمعیت هلال‌احمر، رئیس‌الوزرا در پیامی از شهروندان کشور و افرادی که دارای توانایی مالی هستند خواست تا از جمعیت هلال‌احمر حمایت کنند.

در این پیام آمده که مردم افغانستان با سپری کردن حدود چهارونیم دهه جنگ و ناامنی بیشتر از هر زمان دیگر، نیازمند کمک‌های بشردوستانه هستند. ص۷

## رئیس اطلاعات و فرهنگ غزني؛

# حفاظت از بناهای تاریخی مسئولیت هر شهروند است



مسئولان محلی غزنی حفاظت از بنا های تاریخی را مسئولیت هر شهروند خوانده می گویند که مکان ها و آثار های تاریخی بیانگر هویت تاریخی افغانستان است.

ملا حمیدالله نثار رئیس اطلاعات و فرهنگ غزنی هنگام بررسی میزان خسارات وارد شده بربنا های تاریخی درجریان بارندگی های اخیرگفت" برخی... ص۷

# بدخشان کې د لاسي توکو نندارتون پرانیستل‌شو

بدخشان کې د (عالیست، افغانیست) په نوم د لاسي صنايعو او سيمه ييزومحصولاتو څه باندې ۶۰ غرفې په مرکز فيض آباد ښار کې نندارې ته وړاندې شوې.

د بدخشان مرستيال والي قاري امين الله طيب د باختر آژانس خبريال ته وويل:(( موږ د ياد ولايت د صنعتکارانو له دغه اقدام څخه ملاتړکوو او له هغوی غواړو چې خپل توليدات د هېواد او نړۍ بېلا بېلو برخو ته صادر کړي ترڅو هېواد له بېوزلۍ څخه ووځي او د نورو هېوادونو په څېراقتصادي وده وکړي.))

په ورته وخت کې د بدخشان د صنعت او سوداګرۍ رياست آمرعبدالباطن ظاهري وايي، ۷مخ

# تاتارستاني سوداګرو د نفتو او ګازو پانګونې ته لېوالتیا ښودلې



د کانونو او پټرولیم وزارت وايي، چې د تاتارستان سوداګرو او د نفتو او ګازو پروسس شرکتونو استازو د دغه وزارت له وزير شيخ شهاب‌الدين دلاور سره په ليدنه کې د افغانستان په نفتو او ګازو پانګونې ته لېوالتيا ښودلې ده. د تاتارستان سوداګرو په دغې ليدنه کې ويلي؛ اوس‌مهال چې افغانستان کې سراسري امنيت تامين او د پانګونې لپاره ښه زمينه برابره شوې، نو دوی په پام کې لري ترڅو د افغانستان د نفتو... ۷مخ

# بغلان کې ۲ زره مېرمنې د لاسي توکو پر صنعت بوختې دي



په بغلان کې ۲ زره مېرمنې د لاسي توکو د صنعت په برخه کې په کار بوختې دي چې توليدي توکي يې د بغلان مرکز سربېره په پلازمېنه کابل او ورڅېرمه ولايتونو کې مينوال لري.

د بغلان مرکز پلخمري کې په باختر مارکېټ کې د مېرمنو استازې شيرين محمد وايي، چې په دغه ولايت کې ۲ زره... ۷مخ

سرمقاله

# د فلسطين د ټول وژنې نندارچيان دې هم انتظار کوي!

دادی اووه مياشتې پوره شوې چې صهيونيستانو د غزې پر ټولو ګڼ مېشتو ابادیو له ځمکې او هوا خونړي بريدونه پيل کړي او تردې دمه يې نږدې څلوېښت زره ښځې، ماشومان، پر کټ پراته ناروغان، واړه اوزاړه په بې رحمۍ سره وژلي او کوم اتيا زره نوريې ټپيان او معيوب کړي. البته په غزه کې يوازې د مرګ ژوبلې ستونزه نه ده، هلته اوبه، خواړه، برېښنا، درمل او د ژوند هر ډول اړتياوې هم له منځه تللې. اوس د غزې اتيا سلنه ړنګه او دادی تقريباً دوه ميليونه وګړي يې ټول د الرفح په واړه ښارګوټي کې راغونډ او زياتره يې په خېمو او تر څادرو لاندې ژوند کوي- تېرو څو ورځو کې اسرائيلو د حماس له لوري د اوربند شرطونه ونه منل او بالآخره يې په ډېر شدت سره پر ياد ښار بمبارۍ پيل کړې. ښکاره ده چې کله شپه ورځ هوايي او ځمکني يرغلونه روان وي نو د خېمو په يادو کيمپونو کې به څه ډول ناورين منځ ته راځي. د اردن او مصر سرحدي د پولو پورې خو په لکونو وګړي د ځان ژغورلو هڅه کوي چې په سر يې د يادو مسلمانو ورونو هېوادونو زرګونه وسلوال ښه برګ ولاړ او د همدغو محصورو مسلمانانو تماشې کوي. خو بل لورته ترکيه او سعودي عربستان هم دومره ورجوخت دي چې د هر ډول وسلې مرمۍ يې ور رسېدلی شي، خو له بده مرغه همداسې پر لويه تنه، ستر ځواک او رڼو سترګو بې غمه د فلسطيني ملت د ټول وژنې ننداري کوي. حال دا چې همدا هغه هېوادونه دي چې په ټوله اسلامي نړۍ کې تر ګردو نورو هم له اقتصادي، هم له نظامي او هم له سياسي پلوه خورا ډېر ځواکمن ګڼل کېږي- د افغانستان اسلامي امارت د خپل مسلمان او مېړني ولس په استازيتوب د صهيونيستانو په لاس د فلسطيني وګړو روان قتل عام په کلکه غندي، ستر جنګي جنايت يې بولي،... خپله جدي خواشيني پرې ښرګندوي او له ګردې نړۍ خصوصاً ور نږدې ځواکمنو اسلامي هېوادو په کلکه هيله کوي چې د خپل هر اړخيزو نفوذ په کارولو د وحشي اسرائيلو مخه ونيسي او دغه مظلوم او دربه دره ملت سره بشپړه مرسته وکړي- افغان مسلمان ملت په يو غږ کړېدلو فلسطينيانو سره خواخوږي او غمرازي کوي او دا ورياداوي چې موږ خپله هم تازه له داسې جګړو راوتلي يو چې د ختيځ او لويديځ دواړو نظامي اتحادونو ځانونه راباندې ... ۷مخ

# د نوي کال له پيله ۲ زره کيلو ګرامه کندهاري شات عربي اماراتو ته صادر شوي



د کندهار د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ رياست وايي، چې د نوي لمريز لېږديز کال له پيله تر دې دمه ۲زره کيلوګرامه شات عربي متحده امارتو ته صادر شوي دي. د کرنې رياست داسې مهال دغه خبر ورکوي، چې تېر کال په ... ۷مخ

# د تليسيميا ناروغۍ نړيواله ورځ ونمانځل‌شوه

**شريعت:** افغانستان هم په هغو هېوادونو کې قرار لري چې د تليسيميا ناروغي په کې شتون لري او له امله په زرګونه ماشومان له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي، دغه ارثي ناروغي، چې د انسان په وجود کې د پيدايښت څخه وي چې له امله يې کوچنيان ډېرې خپلې ورتياوې له لاسه ور کوي. د افغانستان د اسلامي امارت د عامې روغتيا وزارت له لوري د مې اتمه د تليسيميا د نړيوالې ورځ په مناسبت د تليسيميا ناروغانو په شتون کې ونمانځل شوه. ۷مخ




# په بلخ کې يو چکډيم ګټې اخيستنې ته وسپارل شو



د کليو، بيارغونې او پراختيا وزارت له لوري د بلخ ولايت د چمتال ولسوالۍ په پشمه قلعه کلي کې د څه باندې ۳ ميليونه افغانيو په لګښت د يوه چکډيم د جوړولو چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. ۷مخ


حمله بر غير نظاميان، مظهر ضعف و شکست رژيم غاصب ۲
د اوبو پر مديريت د حکومت ګرندۍ هڅې ۳
د شهيد شيخ القرآن والحديث خليفه محمد عمر جان آخندزاده تقبله الله ژوند ليک ۴
د اشرف خان هجري د شعر نوستالوژيک اړخ ۵

# حمله بر غیر نظامیان، مظهر ضعف و شکست رژیم غاصب

ضربی

تلاش‌ها برای برقــراری آتش‌بس در غزه و تبــادل گروگان‌های رژیم صهیونیســتی با فلســطینی‌های زندانی، قرار بــود در قاهره از ســر گرفته شــود، اما حمله بر رفح این امیدواری را به بن‌بست مواجه ساخته است.

حمله در رفح در حالی آغاز شــده که ده‌ها هزار شــهروند اسراییلی در تظاهراتی که در تل ابیب راه انــدازی کرده بودند، نه تنها که خواهان بازگرداندن گروگان‌ها به خانه های شان شدند، بلکه

شــعار های «جنگ مقدس نیست، زندگی مقدس است» را نیزسر می دادند و بعضی از آنها بنیامین نتانیاهــو، صدراعظم رژیم غاصــب را متهم می کردند کــه « نتنا هو بدنبال طولانی کردن جنگ در غزه است.»

همچنــان بســتگان گروگان‌هــا در پایگاه نظامــی کریا در تل ابیــب که تجمع کرده بودند از دولت خواستند تا از هر راه ممکن به این جنگ خاتمه دهد، برخی دیگرشان نتانیاهو را به تلاش برای تضعیف آتش‌بس پیشــنهادی متهم می کردند و شماری هم خواســتار پایــان جنگ بودنــد، همچنان شماری از کشــورهای جهان نیز، اسراییل را نســبت به حمله رفح هشدار داده بودند، اما این خواســت ها وفریاد هــا نه تنها که جای را نگرفت، بل رژیم صهیونیســتی با تمام لجاجت و پرروی دســت به حمله زد واین حمله را حمله محدود نام گذاری کرده در حالی که رســانه‌ها در نوار رفح تصویر هزاران واســطه نظامی و نیروهای تا دندان مسلح را نشان می‌دهند.

این در حالیســت که نماینــدگان حماس پیش از حمله بر رفح نــه تنها از مذاکره با هیئت میانجی هــا در مصر خبر داده بود، بلکه تاکید داشــتند که مذاکره کنندگان، گفتگوهــا را در قاهره با میانجیگری مصر و قطر ازسرگرفته اند.

رژیم صهیونیستی در حالی تمامی خواست ها ونظریان داخلی وجهانی را نادیده گرفته که آنتونــی بلینکن، وزیــر خارجه آمریکا، پیــش از حمله بر رفح گفته بود که حماس «برای قبــول آتش‌بس نباید نیــازی به فکر کردن داشته باشد.» زیرا

حمــاس پافشــاری میکرد که هــر توافقی باید با تعهدی مشــخص نســبت به پایان جنگ همراه باشــد، اما صهیونیستان به این باور اند، تــا زمانی که حماس در غزه فعال اســت، تمایلی به این تعهد ندارند، که این بی تفاوتی رژیم غاصب وتمکین نکردنش به پایان جنگ، حکایت از حمایت بی‌دریغ امریکا وشرکایش از اسراییل دارد.

ازاینرو بنیامین نتانیاهو پیش از آغاز مزاکرات نیز مکرراً پافشاری میکرد که یک عملیات تازه زمینی در شــهر جنوبی رفح غزه انجام خواهد شد، حتی اگر توافقی به دست آید.

رسانه‌ها در تل ابیب روز شنبه گزارش دادند که موضــع او در تازه‌تریــن دور مذاکرات تغییری نکرده است.

اما آمریــکا – بزرگترین متحد دیپلماتیک و حامی مالی و نظامی رژیم غاصب، بخاطر فریب جهان به ویژه شــمار از کشــورهای اســلامی گفته کــه رغبتی نــدارد از یک تهاجم تازه در غزه که ممکن اســت باعث کشــته و زخمی شدن شــمار قابل توجهی از غیرنظامیان شــود حمایــت کند و گفته است که شــاهد طرحی باشــد که ابتدا از آوارگان فلســطینی حفاظت شود، حرف ها ونظریاتی میان تهی وعــوام فریبانه که باید کشور های اسلامی وآن عده از کشورهای که جنگ وخشــونت در منطقــه را به نفع امنیت جهانــی نمی بیننــد، درک کنند که ســبب به درازا کشیدن جنگ در غزه نه تنها رژیم صهیونیســتی، بلکه امریکا وشرکای جهانی‌اش است.

این جا پرسشــی مطرح می گــردد که این الجام گســیختگی رژیم غاصب اســراییل از کجا سرچشــمه می گیرد، پاسخ واضح است که این امریکا و شرکای ستراتیژیکش هستند که اسراییل را ژاندارم منطقه ساخته به دنبال تحقق اهداف خود اند.

بناءً شــمار فلسطینی‌های پناه گرفته در رفح ۴/۱ میلیون نفر تخمین زده می‌شــوند. آنها از نبردها در شــمال و مرکز نوار غزه به این جاپناه برده انــد که اگر حمله در این منطقه ی پرجمعیت توقف نشــود، قطعآ فاجعه انسانی به بار خواهد آورد که تاریخ نظیر آن را شاهد نباشد. روی این اساس کشور های آزاد جهان به ویژه کشور های اسلامی، باید در این برهه‌ی تاریخ از استقلالیت ودرایت تمام کار گیرند واز هر طریق ممکن حمله بر رفح را توقف دهند، پیش از اینکه وضعیت در خاورمیانه از کنترول خارج شود.



# د ساینس په پـر مخـتګ کـې د مسلمانانـو رول

خلورمه برخه / لیکوال: پروفیسور ارشد جاوید / ژباړه: انوارالحق عاصم

د مســلمانو کیمیا پوهانــو کتابونــه نــږدې ۷۰۰ کلونــو پــورې پــه لوېدیځــه نــړۍ کــې لوســتل کېــدل، د کیمیا علــم پــه پرمختــګ کــې د ډېــرو مســلمانانو ساینســپوهانو خدمتونــه د یادولــو وړ دي، البتــه مــوږ دلتــه د ځینــو مشــهور ساینســپوهانو خدمتونــه یــادوو:

پــه دوهمــه هجــري او اتمــه عیســوي پېړۍ کــې تــر ټولــو مشــهور کیمیــا پــوه جابــر بــن حیــان رحمــه اللــه ۸۵۰ م ژونــدی ؤ، نومــوړي تــه د کیمیــا پــلار ویــل کېــږي، جابــر لومړنــی ساینســپوه ؤ چــې د تجربــو پــر مــټ یــې کیمیــا تــه د ســاینس منظــم شــکل ورکــړ، نومــوړی د بــې شــمېره کیمیــاوي مرکباتــو مختــرع ؤ، نومــوړي پــه کیمیــا کــې نــږدې ۳۰۰ شــاهکار کتابونــه او مقالــې لیکلــي، د اروپــا پــه بېلابېلــو ژبــو د نومــوړي کتابونه ژبــاړل شــوي، د پروفســور «حتّــي» د وینا پــه اســاس د جابــر بــن حیــان کتابونــو د اروپــا او اسیا پــر کیمیا ژور اغېــز پــروت دی، د «میکــس میرهــاف» پــه وینــا لانــدې اصطلاحــات د جابــر لــه لیکنــو پــه لاطینــي لارې د اروپــا ژبــو تــه راغلــل. Realgar Tutia, Alkali, Antimony, Alembic, Aludel

«میکــس میرهــاف» زیاتوي، چې د اروپــا د کیمیاپوهانــو او کیمیا علــم د تاریخ پــه ټولــو دورونــو کــې د نومــوړي خدمــات لــه ورایــه لیــدل کېــږي.

«وِل ډیورانــټ» پــه خپــل مشــهور کتــاب «د مذهــب زمانــه» کتــاب کــې لیکي، چــې «د منځنــۍ پېــړۍ ســاینس د کیمیــا علــم تــه هغــه تجربــوي تــګلارې ډالــۍ کــړې چــې د اوس وخــت د پرمختــګ تــر ټولــو ســتر راز ګڼــل کېــږي، لــه جابــر بــن حیــان نــه پنځــه ســوه کاله وروســته چــې کلــه «راجربیکــن» لــه دې څېړنیــزو تــګلارو ســره اروپــا اشــنا کــړه او د علــم رڼــا یــې خپــره کــړه، پــه واقعیــت کــې دا رڼــا هــم د هســپانیا مســلمانانو د احســان پــوروړې ده».

«میکــس میرهــاف» چــې د جابــر بــن حیــان د خدماتــو یادونــه کــوي او لیکــي: «عملــي ډګــر کــې جابــر بــن حیــان Filtration, Evaporation, Melting,) Sublimation, Distillation and Crystallization ) پــه څېــر عملیــو غــوره تــګلارې بیــان کــړې، نومــوړي د ډېــرو کیمیــاوي شــیانو د جوړښــت لارې هــم بیــان کــړې، نومــوړی پــه دې خبــر ؤ چــې خالــص رانجــهٔ، خــوږی، تصفیــه شــوې ښــوره، ایمونیا مالګــه او ښــوره څنګــه لاس تــه راځــي، همــداراز ګوګــړ چــې لــه تصفیــه شــوې ښــورې ســره تــاو دهٔ شــي هغــه شــیان تــرې لاســته راځــي چــې «بالبوریــا ســلک آف ســلفر» نومېــږي، نومــوړي مرکــري اکســاید، جوهــر، پــاره او نــورو عناصــرو (Acetate) چمتــو کــړل، نومــوړی پــه دې هــم پوهېــده چــې د ګوګــړو او ښــورې خــام تېــزاب څنګــه جوړېــږي او د دې لــه ګډولــو څنګــه «مــاء الملــوک» لاســته راځــي، چــې پــر مــټ یــې ســره او ســپین زر ویلــې کېــږي».

ګســتاؤلي بــان لیکي، چــې د جابر پــه کتابونــو کــې د ډېــرو داســې مرکباتــو یادونــه شــوې، چې مخکــې چــا نــه پېژنــدل.

جابــر بــن حیــان پــه کیمیــاوي تجربــو کــې د کمــال درجــې تــه ورســېد او پــه دې برخــه کــې یــې داســې بنســټیز اصــول ترتیــب کــړل چــې زرکالــه وروســته اوس هــم تــرې ګټــه اخیســتل کېــږي، نومــوړي ډېــر شــیان اختــراع کــړل چــې ځینــې یــې پــه لانــدې ډول دي:

۱- د تصعیــد عملیــې(Sublimation) ســره د درملــو اصلیــت لــه منځــه ورل.

۲-نومــوړي د تصفیــې (Crystallization) تــګلاره معلومــه کــړه.

۳-د فلتــر کولــو تــګلاره یــې واضحــه کــړه.

۴-د محلــول(Solution) حــرارت پــه پــوډرو بدلــول(Calcinations) آکسانیډیشــن (Oxidation).

۵- د نومــوړي تــر ټولــو مهمــه کارنامــه د درې ډولــه مالګینــو مــوادو معلومــول وو

A-خــوږې تېزاب.

B-ګوګــړو تېزاب.

C-ماء الملوک.

۶-نومــوړي یــؤ څــو ډولــه تېــزاب جــوړ کــړل.

۷-د رخــت او څرمنــې رنګولــو تــګلاره یــې واضــح کــړه.

۸-نومــوړي د ویښــتانو تورؤلــو لپــاره رنــګ جــوړ کــړ.

۹-تــر ټولــو مهــم یــې د قــرع الانبیــق اختــراع وه چــې د څؤلــې راښکلو الــه ده.

۱۰-نومــوړي د رخــت او لرګــي د واټرپــروف کولــو لپــاره مایــع چمتــو کــړ.

۱۱-نومــوړي د ګیــلاس جوړولــو لپــاره «مینګانیــز ډای اکســائډ» تحلیــل کــړ.

۱۲-نومــوړي وویــل چــې د اوســپنې پاکولــو څخــه فــولاد جوړېــږي.

۱۳-نومــوړي لــه زنــګ څخــه د اوســپنې ژغورلــو طریقــه وښــوده.

۱۴-د ویلــي کېدونکــو عناصــرو پــه هکلــه یــې وویــل چــې ټــول عناصــر لــه ګوګــړو او پــارې نــه جوړېــږي.

۱۵-نومــوړي واضحــه کــړه چــې د عناصــرو پــه خلــط کولــو ســره د هغــې وزن ډېریــږي.

۱۶-نومــوړي پراشــوټ ټوټــه جــوړه کــړه چــې شــیان لــه لمدېــدو او خرابېــدو وژغــوري.

۱۷-نومــوړي د ګریــس جوړولــو فارمولــه اختــراع کــړه.

۱۸-د ســروزرو ویلــې کېــدو طریقــه یــې واضحــه کــړه.

۱۹-داســې رڼــا یــې اختــراع کــړه چــې پــه تپــه تیارهٔ کــې ورتــه لیــک لوســت کېــدهٔ.

۲۰-نومــوړي داســې کانــی اختــراع کــړ چــې د ټپونــو د وچېــدو او اضافــي عضلاتــو داغلــو کار تــرې اخیســتل کېــدهٔ.

۲۱-نومــوړي پــه صنعــت کــې لــه کیمیــا نــه ګټــې اخیســتلو کــې د نــړۍ رهبــري کــړې ده.

۲۲-نومــوړي د ســیسي کاربونېــټ جوړولــو، د عناصــرو تصفیــه کولــو طریقــه وښــوده.

۲۳-نوشادر هم نوموړي معلوم کړي.

۲۴-نومــوړي «بالبوریــا ســلک اف ســلفر» د جوړولو طریقه واضحه کــړه.

۲۵-د ســرکې لــه تقطیــر نــه یــې د «ایســک ایســډ» جوړولــو تــګلاره معلومــه کــړه.

۲۶-نومــوړي یــو څــه معدنیــات هــم معلــوم کــړل.

لــه جابــر بــن حیــان نــه وروســته یعقوب کنــدي(۸۰۱- ۸۶۶م) پــه خپلــو تألیفاتــو کــې د فولادو، عطــرو او رنــګ جوړولــو اړونــد ارزښــتمن معلومــات وړانــدې کــړل، د صنعــت پــه ډګــر کــې مســلمانو ساینســپوهانو د دې خدماتــو پــر مــټ د رڼــا، شیشــې او لــه نباتاتــو څخــه غــورو او عطــرو بېلابېــل ډولونــو چمتــو کولــو صنعــت تــه پراختیــا ورکــړه.

مشــهور غربــي تاریخپــوه «ســارټن» لیکــي چــې پــه مســلمانانو کــې الــرازي یواځــې طبیــب او معالــج نــه ؤ، بلکــې پــه کیمیا او فزیــک هــم پوهېــدهٔ، نوموړي پــه کیمیا کــې څــو کتابونــه لیکلــي، پــه کیمیــاوي تجربــو کــې چــې کــوم آلات کارول کېــږي نومــوړي د هغــې تفصــلات ورکــړل.

ابوبکــر محمــد بــن زکریــا الــرازي د منځنــۍ پېړۍ تــر ټولو ســتر کیمیاپوه ؤ، نومــوړي کیمیــاوي مــادې پــه جماداتــو، نباتاتــو او حیواناتــو باندې وویشــلې او د کیمیا پرمختــګ تــه یــې لاره هــواره کــړه، نومــوړي ۱۸۴ کتابونــه تألیــف کړي، چې نــږدې شــل یــې د کیمیــا پــه برخــه کــې دي، تــر اوولســمې پېــړۍ پــورې د هالینــډ پــه پوهنتونونــو کــې د نومــوړي کتابونــه تدریــس کېــدل، نومــوړي پــه خپلــو کتابونــو کــې د ۲۷ داســې آلاتــو یادونــه کړې، چــې پــه لابراتــوار کــې یــې کارولــې دي، د نومــوړي «الحــادي» او «المنصــوري» کتابونــه لوېدیځــې نــړۍ ژبــو تــه وژبــاړل شــول او پــه وار، وار چــاپ شــول.

د الکولــو موندونکــی امــام رازي دی، نومــوړي لــه الکولــو پرتــه «ســلفیورک ایســډ» هــم اختــراع کــړل، «هائیډروســلفیورک ایســډ» او «کاســتیک ســوډا» جوړولــو ترکیــب هــم نومــوړي وړانــدې کــړل، نومــوړي د زیتــون لــه تېلــو ګلیســرین جــوړ کــړل، نومــوړی لومړنــی کیمیاپــوه ؤ چــې هــر څیــز کــې یــې د درې ځانګړنــو «ســلفر، ســالټ او مرکــري» د شــتون خبــر ورکــړ، چــې کلونــه وروســته د اروپــا (Paracelus) ددې خبــر ورکــړ، نومــوړي خپــل کیمیــاوي معلومــات پــه طــب کــې وکاروؤل، امــام رازي د درملــو دقیــق وزن لپــاره ځانګــړې تلــه اختــراع کــره، چــې هــر ډول کوچنــي څیزونــو د تــول وړتیــا یــې درلــوده، دا تلــه د ســاینس پــه لابراتــوار کــې کارول کېــږي.

د هســپانیا مشــهور کیمیاپــوه مســلمه المجرایطــي ؤ، چــې پــه دې هکلــه یــې دوه کتابونــه هــم تألیــف کــړل، د نومــوړي «غایــة الحکــم» کتــاب لاتینــي تــه هــم ژبــاړل شــوی، د اروپــا پــه منځنــۍ پېریــو کــې دا کتــاب د کیمیــا پــه برخــه کــې مســتند مأخــذ شــمېرل کېــدهٔ او څــو ســوه کالــه پــه درســي کریکولــم کــې شــامل ؤ.

ابومنصــور لومړنــی بریالــی ساینســپوه ؤ چــې:

۱-ســوډیم کاربونیــټ او پوټاشــیم کاربونیــټ ترمنــځ توپیــر واضــح کــړ؛ ځکــه چــې د دې ترمنــځ ډېــر کــم توپیــر دی.

۲-نومــوړي ســپینه طوطیــا(Arsenious Oxide) خالــص ســپین پــوډر ونومــول، د یــؤ بــل ډول پــوډرو یادؤنــه یــې هــم وکــړه چــې (Silicic Acid) نومېږي.

۳-نومــوړي د «پلاســټر اف پیــرس» جوړولــو تــګلاره وښــوده چــې د ماتــو شــویو هډونــو پــه جوړولــو کــې تــرې کار اخیســتل کېــږي.

۴-نومــوړي واضحــه کــړه چــې مِــس پــه هــوا ســره شــین رنــګ راوړي او کــه تــاؤدهٔ شــي نــو تــور رنــګ پــرې غالبېږي.

نور بیا...



# د منځنۍ آسیا د اسلامي تمدن ځینې مشهورې سیمې او علماء !

**څلورمه برخه / م حمادشیرزاد**

د اسلامي تمدن د دغو سیمو یادونه د خپل تېر بـرم د اعادې پـه پار او د خپـل زرین تاریخ او هغه اشـخاصو چې اسـلامي امت او انسانیت ته یې خدمت ترسره کړی، مهمه ده، تر څو د هغو اسـلافو چې ژوند یې د اسلام او اسلامي امت خدمت ته وقف کړی و، تاریخ وپېژنو او پر لاره یې لاړ شـو او هغوی چې د دوی زرینه لار پرېښوده، کفر ته مغلوب او اسلامیت پکې ورک شـو، عبرت ورځني واخلو او د خپلو مشرانو، اسـلافو، اسـلامي نظام او خپلې اسلامي ځمکې قدر وپېژنو.

په یاده سلسـله کې د اسـلامي تمدن یوې بلې مشهورې سـیمې ته ورځو، هغه سیمه چې د البیروني او زمخشري علمي خدمتونو او خوارزمي سلطنت او دولـت شـهرت ورکـړ، د نړۍ په اصطلاح نه تسخیرېدونکو چنګیزیانو تـه یې ماتـې ورکړې او تـر ننه یې د تاریخ په زرینو پاڼو کې کارنامې ساتل شـوي او نسـل په نسـل مخته وړل کېږي، دا سیمه خوارزم نومېږي.

تاریخ او حالات:

خـوارزم چـې په اوسـني وخت کې ورتـه خیوه ویل کېږي، د ازبیکسـتان یو له مشهورو سیمو څخه ګڼل کېږي، خیوه پـه خپله د خـوارزم ولایت یوه سیمه ده، چې اوس دغې ټول ولایت تـه د خیوې نـوم کارول کېـږي، که څه هم تاریـخ او پخپله زیات خلک ورته اوس هـم د خوارزم نوم کاروي، خوارزم هم د اسلامي تمدن، اسلامي آبادۍ، تاریخي آثارو، علم او فنونو یو سـتر مرکز و، چې اوس یواځې یادې آبادۍ، تاریخي مدرسـې او جوماتونه د ننداري او سیل لپاره خلاص دي.

خـوارزم هغه سـیمه ده چې د لومړي ځـل لپاره د اسـلام وتلي فاتـح قتیبه بن مسـلم د هجرت په ۹۳ کال فتحه او دلته خلک په اسـلام مشرف شول، نوموړي دلته هم د اسـلامي تعلیماتو، مدرسـو، جوماتونو او نورو درسګاوو بنیاد کېښـود، هماغه و چې اسـلام د دې خلکو په زړونو کې سرایت وکړ او کلونه کلونه دوی د اسلام کلک مدافع او ویاړلي خلک پاتې شول.

خوارزم/ خیوه کې پخواني آثار زیات شتون لري، یاده سیمه هم د وریښمو د یوې لارې پر سر پرته ده، لاسي صنایع او نور تجارت تر اوسـه په کې جریان لري، له تاریخي آبادیو څخه یې «قلعه ایچـان» ده چې پکې د ننه بیا بېلابېلې مدرسې، کورونه او نور تاریخي آثرات شته، «ارګ کنیا» هم مشهوره قلعه ده، «مدرسـه محمد امین» بیا بل تاریخي اثر دی، « د کالتـا مناره» او همدا راز بېلابېلې مقـبرې او د خیوې پخوانی تاریخي جومات هم شامل دی.


مشهور علماء!

د خـوارزم سـیمې شـخصیتونه ډېر دي، چې تاریخونـه او کارنامې یې د دولتونو او سـلطنتونو پـه کتابونو کې ثبت دي، لکه علاؤ الدین خوارزم شاه او جلال الدیـن، موږ به یې یوازې یو څو مشهور علماء یاد کړو.

۱- د پینځمې صدۍ د اسـلامي نړۍ مشـهور فلسـفي، طبیبان، کیمیادان، ریاضي دان، تاریخ پوه، روان شـناس او د بېلابېلو علومـو ماهر ابو ریحان البیروني د یادې سـیمې و، خپل نوم یې محمد بـن احمـد البیرونی دی، پـه بېلابېلـو فنونو کې یې نه سـترې کېدونکي خدمتونه او تصنیفات ترسره کړي، چې شمېر یې تر ۱۵۰ رسېږي، چې کتاب الصیدلـه، تحقیق الهند، د هندسـې، ریاضي، فلکیـات او نورو برخو مشـهور کتابونه،چې اوسـنۍ نړۍ ترېنه بشـپړه ګټه پورته کوي او په کال ۴۴۰ یا ۴۴۲ هـ کې وفات شوی.


۲- د دریمې صدۍ مشـهور فلسفي، ریاضي دان او تاریخ پوه شـخصیت ابوجعفر محمد بن موسـی خوارزمي هم د یادې سـیمې و، نومـوړي ته د الجبر مـدون هم ویل کېږي، نوموړي پخپـل وخت کې د بېلابېلو سـاینسي علومـو، هندسـې، جـبر او ریاضي خدمت ترسره کـړی او تصنیفات یې پکې کړي، چې الجـبر و المقابله او حسـاب الهند یې زیات مشهور دي، چې د نړۍ بېلابېلو ژبو ته ژباړل شوي او په کال ۲۳۲ هجري کې وفات شو.

۳- جار الله زمخشري چې د مشـهور تفسیر کشـاف مصنف دی، نوموړی محمود بن عمر زمخشري خوارزمي، په ابوالقاسـم او جـار الله زمخشري باندې یې شـهرت موندلی و، مشهور مفسر، ژبپوه، خطیـب او ادیب عالم و، زیـات تصنیفات یـې ترسره کړي، چې مشهور یې تفسیر کشاف، اساس البلاغم، نحو کې زیات کتابونه، ادب، بلاغه او نورو فنونو کې هم، نوموړی په ۵۳۸هـ کې وفات شـو. او داسې نور.



# د اوبو پر مدیریت د حکومت ګړندی څښې

**وحیدالله - هڅاند**



د بشـریت په وده کې اوبه یو له هغو مهمو توکو څخه شمېرل کېږي، چې د نړۍ سترو تمدونونـو او امپراتوریو د اوبو له برکته وده کـړې او اقتصاد یې نن پر پښـو ولاړ دی.

اوبه چې د څښـتن تعالی له لوري سـتره پېرزوینـه ده، چې خپلو بنـده ګانو ته یې ډالۍ کړې، نو هرو مرو یې باید شکرانه ادا کړو او د قدر په سـترګو ورته وګورو، ځکه همدا اوبه دي، چې د ځمکې په زرغونولو کې خورا مهم او بنسـټیز رول لري او پرته له اوبو کرنه، صنعت او ژوند ناشونی دی.

افغانسـتان چې د منځنۍ او سویلي آسیا ترمنځ یو جیو سـتراتیژیک موقعیت لري، د آسـیا پرکچه د اوبو لـه امله غني دی او اوبیزې زېرمې یې د نـړۍ په ډېرو هېوادو کې نشته، افغانان که هر څومره ډېرې اوبه لـري، خو بیا هـم د وچکالۍ او اوبو ته د نه لاس رسـي له سـتونزو او ننګونو سره مخامـخ دي. د افغانسـتان نیمایي خاوره غرونه تشـکلیوي، چې ډېـری وخت په طبیعت کې غرونه د اوبـو برجونه نومول شـوي. همدا لامل دی، چې افغانستان په سیمه کې د اوبو ډېرې سترې زېرمې لري، خو له ډېره بـده مرغه د تېرو څه د پاسـه څلوېښت کلنو ناخوالو، تېل شویو جګړو او چارواکو د بې پروایۍ لـه امله تر ننه د افغانستان پر سر اسماني ارزښت او بالقوه شتمني ګاونډیو هېوادونو ډالۍ کېده.

افغانسـتان ۶۹ بیلیـون متـر مکعب اوبه لري، چې لـه دې څخـه ۵۳ بیلیون متر مکعب یې د ځمکې پر سـر او ۱۶ بیلیون متـر مکعب یـې تر ځمکې لانـدې اوبه دي. له دې انـدازې یوازې ۲۳ بیلیون متر مکعب اوبه کاروي او پاتې ۴۶ بیلیون متر مکعب اوبه په وړیا ډول ګاونډیو هېوادونو ته هسـې خوشـې بهېږي او افغانان هېڅ ډول ګټه ترې تر لاسه کولای نه شي.

د څېړنو مرکز د شـمېرو پر بنسټ، هر کال ۱۹ میلیـارده متر مکعبه اوبه پاکسـتان ته ورځـي او ۳۴ میلیارده متـر مکعبه اوبه ایران ته ځي، چـې دوی دواړو افغان اوبو ته سـترې ذخیرې جوړې کـړې او د اړتیا په صورت کې ترې ګټـه پورته کوي، خو لله الحمد له دې وروسـته به د افغانستان اوبه بابېزه نـه ګڼل کېږي، بلکې لومړی به د همدغو اوبو څخه پـه خپل ټاټوبي کې اعظمـي ګټه اخیسـتل کېـږي او د هېواد شـاړې دښـتې به پرې زرغونېـږي، هغه داسـې ده، چې په دې وروستیو کې د اوبو مدیریت ته ځانګړې پاملرنه زیاته شـوې او حکومـت په دې برخه کـې لنډ مهالي او اوږد مهالـي پلانونه لـري، چې د اوبو مدیریت لپاره د هېـواد په کچه کوچني او سـتر بندونه جوړ کړي. د دغـو بندونو په جوړېدو سره به د هېواد په کچه د سېلابونو راوتلـو خطر کم کړي، بل لـورى به هغه خوشې اوبه ذخیره شـي، چې کلونه کلونه ګاونډیـو هېوادونـو پرې مـزې چړچړې کولې او د ژوند اړین توکـي او پیداوار به یې له دې لارې پوره کول!

د اقلیـم د کارپوهانو د اټکلونو پر بنسـټ په نـږدې راتلونکي کې به تر ۲۰۲۵ کلونو په افریقا، پاکسـتان او هند کې نږدې ۱،۸ میلیارده وګړي د اوبو له کمښـت سره مخ شـي. همدا اوس په نړۍ کې ۱،۲ میلیارده انسـانان د څښـاک پاکـو اوبو تـه هېڅ لاسرسـی نه لري، ۲،۴ میلیارده انسانان چې د نړۍ ۴۰ سـلنه وګـړي جوړوي، نه شـي کولی خپلـې کارول شـوې اوبه په سـمه توګه راغونډې او بېرته تصفیه کړي، همدا ناولې او چټلې اوبه د کانالېزسیون د نشتوالي له امله د ۸۰ سلنې ناروغیو لامل ګرځي.

اوس افغانسـتان په داسې حالت کې قرار لري، چې د نورو سـتونزو ترڅنګ د اوبو سالم مدیریت ورته ډېر اړین دی، ځکه که موږ د خپل هېواد اوبه سـمې مدیریت نه کړو، نو له ګڼو ستونزو سره به مخ شو، چې ښـه بېلګه یې په افغانسـتان کې د برېښنا کموالی په ګوته کېږي، چې په مسـتقیمه توګه له اوبو سـره تړلی،ځکه په اوسـني وخت کې داخلي برېښـنا نه شـي کولای د افغانانو پر مخ پرتې ۲۴ سـاعته ستونزې حل کړای شي،نو له همدې امله اړتیا شته چې خپلې خـدای راکړې اوبـه په خپله مدیریت کـړو، د هېواد په ټولو سـیندونو د برېښـنا بندونه جوړ کړو، په دې سره به وطن کې د اړتیا وړ برېښـنا زیاته شـي او کارخونې به مو خپل فعالیتونه ۲۴ سـاعته مخ ته وړي او موږ بـه په ټوله کې د پردۍ انرژۍ له محتاجه خلاص شو!

په اوسـني وخت کې د اوبو د اسـتفادې په برخه کې د سـپما سیاستونه او د هېواد د اوبـو په مدیریـت کې د دولتـي ادارو ترمنځ همغـږي اړینه بلـل کېږي؛ ځکه د طبیعي سـرچینو په کارولـو کې د وګړو چلنـد ډېر اغېزمن دی،چې دا چاره د اوبو پـه مدیریت کې اغېزمنه تمامېدای شـي.

د اوبو د سـرچینو په مدیریـت کې د نظر د یووالـي لپاره باید دولت له ښـوونیزو ، تحصیلي بنسټونو او جوماتونو کار واخلي چې حقوقي ذهنیـت په یوې اکاډمیکې او ملي مفکورې بدل کړي. اوسـنیو شرایطو ته په کتو چـې د اوبو مدیریـت په برخه کې اړین برېښـي، د دولتـي ادارو ترمنځ همغږي ده. ځکه موسـمي بدلونونه او له املـه یې د اوبو کمښـت د نړۍ په کچه د پام وړ مهمه پدیده ده. افغانسـتان چې اتیا سلنه د اوبو سـرچینې یې په کرنیزو چارو کـې لګول کېږي اړینه ده چې حکومت په دې برخه کې د بېلابېلو هېوادونو تجربو ته په پام سره لازم بدلونونه رامنځته کړي !

# قناعت کلید گنج سعادت

**شاداب**



انسـان از بـدو پیدایـش تـا پایـان زندگـی بـه منظـور رفـع نیازمندی‌هـای خویـش، در زیـر سـایه حـرض و آز دنبـال سـعادت و خوشـبختی‌های اجتماعـی جـد و جهـد می‌نمایـد، در ایـن میـان فرطـه هـوا و هـوس تقـلا نمـوده بـه غـرض جمـع‌آوری بـرگ و بـار داشـته‌های فریبـا و زود گـذر دنیـوی و بیشـترینه گرایـش به مادیـات و سـیم و زر می‌داشـته باشـد بعضـاً بـه اسـاس سـعی و تـلاش بـه ایـن خواسـت مـادی می‌رسـد امـا سـاحل سـرکش آرزوهـا و تمنیـات آنقـدر دور و دراز اسـت کـه ابنـا و انتهـا نـدارد.

بی‌گمـان فـرط و غلیـان حـرص و آز؛ هـوا و هـوس بـه ذات خویـش انسـان را از آرامـش و سـعادت دور می‌نمایـد و آنچـه کـه در زدودن آرامـش و سـعادت بیشـترینه نقـش دارد، دار و نـدار مادیـات و امکانـات بیـش از حـد و ضـرورت اسـت. در ایـن عجـوزه سـرا کـه سـراپای آن در نهایـت امـر جـز خـواب و خیـال و دلبسـتن‌های فریبنـده چیـز دیگـری نیسـت بـه جـز جمـع‌آوری توشـه اخـروی کـه در یـوم سـفر دسـتاوردی خواهـد بـود کـه از ایـن سـفله سـرا بـاد خـود می‌بریـم دگـر همـه هیـچ انـد.

حضرت بیدل می‌فرماید:

**آخر ز فقر بر سر دنیا زدیم پا**
**خلقی به جاه تکیه زد و ما زدیم پا**

آنچـه کـه می‌توانـد انسـان را در ایـن سـاحل سـر گشـته بـه آرامـش و سـعادت واقعـی سـوق و سـو دهـد همانـا قناعـت اسـت.

سـراب فریبـا و حبـاب امـواج خروشـان زندگـی بـا انسـان ملعبـه نمـوده بـه نحـوی از انحـا می‌کوشـد در فریبایـی و دلربایـی‌اش موفـق باشـد، امـا مناعـت و فرزانگـی انسـان در ایـن جاسـت کـه روی پلشـتی‌های نامـوزون دنیـا پشـت پـا زده و از عالـم مجـاز بـه حقیقت‌هـای زندگـی حقیقـی بپیوندنـد.

اگـر اندکـی تمکیـن نمـوده روی ابنـا و انتهـای زندگـی فکـر کنیـم در خواهیـم یافـت کـه همـه دار و نـدار دنیـا؛ چـون: سـراب اسـت بـه جـز امانـت الهـی چیـزی بیـش نیسـت و دوم اینکـه افزایـش مـال و منـال دنیـا جـز بـار دوش چیـز دیگـری بـوده نمی‌توانـد.

قناعـت یگانـه کلیـد درب گنـج سـعادت بـوده کـه انسـان را از دغدغه‌هـای فتنـه و تکذیـب دور نمـوده و بـه سـعادت و خوشـبختی واقعـی می‌رسـاند.

در بادیـهٔ قناعـت آرامـش روحـی و روانـی و غنامنـدی‌ای وجـود دارد کـه هیچ‌گونـه سـر و سـرمایه‌ای نمی‌توانـد بـر ایـن غنامنـدی برسـد.

سـرمایه همـان سـرمایه اسـت کـه در راه خـدا(ج) و خلـق خـدا(ج) بـه مصـرف برسـد در غیـر آن جـز امانـت‌داری دیگـر توشـه‌ای نـدارد.

قناعـت در صورتـی ممکـن اسـت کـه بـر فـرط نفـس و هـوس غلبـه نمـوده و شـیفته رنـگ و بـوی ایـن آشـفته بـازار نشـویم.

در عالـم قناعـت و صبـوری همـه چیـز وجـود دارد و حتـا کـم در حـد بیـش قـرار می‌گیـرد انسـان قانـع از یمـن و برکـت قناعـت در اجتمـاع از جایـگاه خـوب و اعتمـاد بـالا برخـور دار می‌گـردد.

بهینـه اسـت تـا شـیفته سـیم و زر و جـاه و جـلال ایـن دنیـا فریبـا نشـده و قناعـت را در نهـاد خویـش نهادینـه سـازیم.

**ذال دنیا را چه خوش گفت عشقری**
**یک طلاق و دو طلاق و سه طلاق**

# د شهید شیخ القرآن والحدیث خلیفه محمد عمر جان آخندزاده تقبله الله ژوند لیک

**مولوي فضل المنان سعید**

شهید سعید شیخ الحدیث و التفسیر خلیفه محمد عمر جان اخندزاده صاحب تقبله الله د هېواد له هغو ګوته په شمېر علماوو څخه یوو، چې دا ملت یې په ډېره مېړانه، متانت او جرأت سره د علم، عرفان او له طاغوت سره مبارزې ته رهبري کړ او په دې لار کې د وخت هېڅ ډول حوادثو او کړېچونو له خپل مسیره کوږ نه کړ او نه د حالاتو هېڅ راز جبر ته تسلیم شو او په داسې حالت کې د دې ملت لپاره د هدایت او پوهې مشال و چې دا ملت د نړیوال استبکاري طاغوت له فزیکي، سیاسي او فکري یرغل سره مخ و. شهید شیخ صاحب که له یوه اړخه د تدریس له لارې مسلمانانو ته دیني علم ورساوه، د روحاني حلقو په وسیله یې د هغوی پر تقوی، دیانت او اخلاص کار وکړ، همدا راز بل اړخ ته یې د ټولنیزو غونډو، ویناوو او سیمینارونو په مټ یې هغوی ته د ایثار، جرأت او قرباني درسونه ورکړل او د هېواد د ازادۍ او شریعت د نفاذ په سپېڅلې وظیفه کې یې له هېڅ ډول قربانۍ څخه دریغ ونه کړ او په همدې مقدسه لار کې یې خپلې پاکې وینې او معصومه اروا خپل خالق ته وسپارله.

**زوکړه او زدکړې:**

د شهید شیخ صاحب نوم محمدعمر و، دا چې شیخ صاحب مرحوم له وړکتوبه ډېر صالح او معصوم انسان و مور یې له نازه محمد عمر جان باله. د استاذ کل مرحوم علامه عنایت الله صاحب مشهور په غبرګي اخنذاده صاحب مشر زوی او د مرحوم حضرت مولانا عبدالرزاق صاحب لمسی په کال ۱۳۴۴ ه ش کې د خپل پلرني ټاټوبي زابل د شاجوی ولسوالۍ په غبرګي کلي کې په یوه متدینه او علمي کورنۍ کې یې نړۍ ته سترګې وغړولې.دا چې د شیخ صاحب کورنۍ له پېړیو راهیسې له دینداری، علم، جهاد او تدریس سره تړلې پاتې شوې، نو لومړنۍ زدکړې یې په خپل کور کې د حضرت والد صاحب له شاګردانو څخه پیل کړې خو کله چې د ثور کرغېړن او منحوس انقلاب وشو او پر افغانستان د کمونستانو واکمني پیل شوه، دیني مدارس او مرکزونه تعطیل شول، شیخ صاحب له خپل مرحوم والد صاحب څخه درسونه پیل کړل، ترڅو چې په کال (۱۴۰۴هـ ق(مطابق (۱۳۶۲ ه ش) کې پاکستان ته په هجرت کولو اړ شو. تر دې وروسته یې د هجرت په دیار کې په بېلابېلو مدارسو کې د مروجه فنونو د زده کړو لړۍ پر خپل والد صاحب پای ته ورسوله، چې بالاخره یې په (۱۴۱۱ هـ ق) مطابق (۱۳۶۹ هـ ش) کې یې له دورة الحدیث څخه د فراغت ویاړ تر لاسه کړ.

**درس او تدریس:** شهید شیخ صاحب تقبله الله له درس او تدریس سره بې کچې مینه درلوده، بې ساری اخلاص یې ورته درلود او ځانګړې پاملرنه یې ورته کوله. د همدې اخلاص او ځانګړې ورتیا پایله وه، چې په ډېر کم عمر یې بیخي ډېر رزیده او برګزیده اشخاص وروزل، علم یې دومره عام المنفعه شو چې د افغانستان په هر ولایت، ولسوالۍ او کلي کې یې شاګردان درلودل او تر ډېره حده ټول په ښه خدمت مصروف دي.شهید شیخ صاحب له فراغت وروسته متصل د درس او تدریس په مقدس خدمت بوخت شو. شیخ صاحب تدریس ته د یو عبادت په شکل کتل. له همدې وجې یې په لویو او کوچنیو کتابونو، ډېرو او لږو طالبانو هېڅ باک نه کاوه، په لومړي سر کې یې په وړو-وړو مدرسو کې د وړو-وړو کتابونو درس په ډېره مینه او اخلاص شروع کړ، ان تر دې چې له کوره لرې به له طالبانو سره مدرسه کې اوسېده، زیات مسکنتونه، غربت او مسافرۍ یې وګاللې،خو له فراغته تر شهادته یې په تدریس کې هېڅ ناغه ونه کړه. دا چې شیخ صاحب پر کتابونو ډېر برلاسی، د ښه فصاحت څښتن او د زیات اخلاص خاوند و په ډېر لږ وخت کې یې شهرت وموند او د سیمې تر ټولو ذکي او تکړه طالبانو د شیخ صاحب تدریسي حلقې ته رُخ شول او د علاقې د لویو او سترو جامعاتو د پاملرنې مرکز شو.جامعه دار العلوم هاشمیه (عبدالخالق اغا مدرسه) هغه مهال د سیمې تر ټولو لویه او ستره جامعه بلل کېده. شیخ صاحب په دې مدرسه کې د یو مشر استاد په توګه مقرر شو او دوولس کاله یې هلته زرګونه طالبان وروزل.

**تفسیر قرآن:**

حضرت شیخ صاحب هېڅ فرصت له لاسه نه ورکاوه کله چې به د فنونو له تدریس څخه فارغ شو نو په رخصتیو کې به یې د قران کریم د تفسیر دوره پیلوله تقریباً پنځلس کلونه یې په پر له پسې توګه د قران کریم د تفسیر دوره وکړه.په تفسیر کې د شهید شیخ صاحب انداز ډېر عام فهمه او اسان و د تفسیري نکتو او باریکیو پر ځای به یې ډېره توجه د قرآن کریم اصلاحي پیغام ته وه، له همدې امله د دیني زدکړو د طالبانو تر څنګ عام مسلمانان هم ترې مستفید وو.

جامعه نور المدارس کې یې د تدریس لا مل

**دوره حدیث:**

جامعه نور المدارس ته له تللو سره سم حضرت شیخ صاحب هلته د حدیثو په خدمت مصروف شو، د دورة الحدیث (لویې دورې) ټول کتابونه یې یوازې د رسول او چې کله به له لویې دورې فارغ شو بیا به یې وړه دوره پیلوله. دا سلسله تقریباً تر لسو کلنو روانه وه.کله چې افغانستان کې اسلامي امارت واکمن شو حضرت شیخ صاحب د حضرت امیرالمؤمنین حفظه الله په ځانګړې غوښتنه کندهار ته وبلل شو او هلته د کندهار په جهادي مدرسه کې (چېرته چې د اسلامي امارت په تېره دوره کې د شهید شیخ صیب والد استاد پاتې شوی و) د حدیثو د استاد په توګه مقرر شو او د شهادت تر کاله یې د وړې او لویې دورې زرګونه طالبانو ته د سپېڅلي نبي پاک او رښتیني احادیث تدریسول.

**د ټولنې د اصلاح هڅې:**

شهید شیخ صاحب د طالبعلمانو او علماوو د اصلاح او اسلامي تربیې تر څنګ د عامو مسلمانانو اصلاح ته هم بشپړه پاملرنه وه. حضرت شیخ صاحب ته الله تعالی د وینا او خطابت عجیبه ملکه ورکړې وه، ډېره جراره روانه او اغېزمنه ژبه یې لرله، ډېر کله به یې د سیرت تر عنوان لاندې غونډې رابللې له هغه لارې به یې عام مسلمانان د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سیرت، ټولنیز ژوند، اخلاقو او رویې سره اشنا کول. که به د کوم شهید ختم و له هر څومره لېرې ځایه یې ځان ورته رساوه او هلته به یې د شهید کورنۍ او پسماندګانو ته د تسلیت تر څنګ په عامو مسلمانانو کې د جهاد د روحیې ژوندۍ ساتلو لپاره ویناوې کولې. له دې سره-سره یې د جهاد په احکامو او د اسلامي امارت په پالیسي د نظامي مجاهدینو د پوهولو لپاره هغوی ته سیمنارونه جوړول او هغلته به یې دوی ته د امارت اسلامي د وسله والې مبارزې کرنلارې او د اسلام جګړییز اخلاق او اصول بیانول. د سیمینارونو د یو شمېر ګډونوالو قومندانانو په وینا: شهید شیخ صاحب به په سیمینار کې ټینګار پر دې و: له هېوادوالو سره ډېر نرم او صمیمانه چلن وشي او د هغوی له بې ځایه ځورولو څخه ډډه وشي.د ولس د اصلاح هڅې یې یوازې تر همدې کچې محدودې نه وې. یو وخت د وخت وتلی عالم شهید علامه ذاکري صاحب رحمه الله تعالی د حضرت شیخ صاحب میلمه و، مجلس کې حضرت شیخ صاحب شهید ذاکري صاحب ته یادونه وکړه چې موږ د عوامو د احساناتو پوروړي یو ځکه ټول دیني کارونه د دوی د مالي مرستې پر مټ تر سره کوو: مدارس، مساجد، خانقاوې، جهاد او ... د دوی د مالي مرستې له برکته چلېږي، مګر همدې عوامو ته موږ تر ټولو اهمه او اساسي فریضه (لمونځ) لا نه دی ور زده کړی، د دې لپاره باید یو عملي کار پیل شي او د عملي کولو لپاره یې داسې طرحه ورته وړاندې کړه، چې هر امام دې په خپل جومات کې مقتدیانو ته لمنځونه پیل کړي. ذاکري صاحب رحمه الله تعالی دا وړاندیز ومانه او د دې کار لپاره یې طرز العمل جوړ کړ او په هر جومات کې یې لومړی تقریر کاوه او بیا به یې د کلي امام ته دنده سپارله چې کلیوالو ته به لمونځ او د هغه احکام ور زده کوي. دې کار ډېره ښه نتیجه ور کړه د ډېرو خلکو لمنځونه زده شول او اکثرو ځوانانو له لمانځه سره-سره د قرانکریم زدکړې ته هم مخه کړه.

شیخ شهید رحمه الله تعالی د تدریس، امامت، خطابت او دریو فقهي مجالسو کې له قیادت سره-سره یو بل درونه مسئولیت هم درلود چې د« کره کتنې کمېټې» عضویت و. د دې مسئولیت ارزښت او اهمیت له دې معلومېږي چې مشرتابه مقام حفظهم الله په ځان پسې مربوط کړی و او دی.لنډه دا چې حضرت شیخ شهید رحمه الله تعالی اسلامي امارت کې هغه اهم او درانده مسئولیتونه تر سره کړي،چې د اسلامي امارت د بریا لوی لاملونه ورته ویلای شو، یعنې په ټوله کې یې اسلامي امارت ته اتحاد ور ښښلی دی.

**شهادت:**

حضرت شیخ صاحب چې څومره پر مسلمانانو مشفق او مهربانه و په هغومره اندازه د یرغلګرو کفارو او د هغوی د حوارینو په وړاندې سخت او متشدد و، ګوا د رحماء بینهم، اشداء علی الکفار په صفت کامل متصف و. حضرت شیخ صاحب لکه څنګه چې له کمونیستانو سره په عملي جهاد کې برخه درلوده همدا شان یې د کفري صلیبي لښکرو په وړاندې له اولې ورځې په قلم، ژبه او فکر دوامداره او اغېزمنه مبارزه وکړه. دا چې شهید شیخ صاحب ټول ژوند د الله د دین خدمت ته وقف کړی و د شیخ صاحب د ډېرو نیژدې ملګرو له قوله تل به یې په دعاوو کې مرګ هم د الله د دین په خاطر د شهادت په صورت کې غوښت. بالاخره کال ۱۴۰۳ هش د حمل میاشتې پر دېرشمه د دین او هېواد د دښمنانو له لوري په یو ناځوانمردانه برید کې په داسې حال کې په شهادت ورسېد چې ټوله برات میاشت روژه و، د رمضان المبارک په اخري عشره کې یې مسنون اعتکاف وکړ او د شهادت په ورځ یې هم د شوال روژه په خوله د جماعت د لمانځه له ادایني وروسته کور ته پر لار و. انا لله و انا الیه راجعون

**خواخوږي او تاثرات:** د حضرت شیخ صاحب شهادت د ټولو هیوادوالو لپاره یوه لویه غموونکې پېښه وه. ان د وخت امیر المؤمنین حفظه الله ډېر په غمګین او دردېدلی و، د امیرالمؤمنین حفظه الله د مجلس د یو تن ګډونوال په وینا: حضرت امیرالمؤمنین حفظه الله د شیخ صاحب د شهادت په ورځ ډېر غمګین او افسرده ښکارېده. په ډېر حسرت او ارمان یې وویل چې شهید شیخ محمدعمرجان اخندزاده صاحب زموږ د اسلامي نظام او هېواد لپاره یوه ستره او نه جبرانېدونکې ضائعه ده موږ ټول یې ډېر وردردولو د ځینو خاطرو له بیانولو وروسته یې دعاء وکړه چې الله تعالی دې شهادت قبول او په فردوس جنت ونازوي.

د سرحداتو او قبائلو چارو وزیر محترم نورالله نوري صاحب وویل چې:شهید شیخ محمدعمرجان اخندزاده صاحب تقبله الله یوازې د یوې ولسوالۍ او ولایت عالم نه و بلکې زموږ د ټول هېواد بلکې د سیمې په سطح عالم و. د نوموړي شهادت لویه فاجعه ده خو بل لور ته د افتخار ځای هم دی چې ټول عمر یې د الله تعالی د دین په خدمت کې تېر شو خپلې پاکې وینې یې هم په همدې لاره کې الله تعالی ته ډالۍ کړې.

د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي صاحب وویل چې:له مرحوم اخندزاده صاحب سره له ډېره وخته زموږ نیژدې تعلق پاتې شوی او هغوی ټول وخت زموږ دیني رهبري کړې، زموږ د کورنۍ په علمي تسلسل کې د دوی رول ډېر مهم و. د کار او ټولنیزو چارو وزیر ملا منان عمري صاحب وویل چې:شهید شیخ صاحب له هغو ګوته په شمېر کسانو څخه وو چې په یو وخت کې هم نوموتی عالم و، هم سیاسي قاید و او هم قومي مشر او د سیمې نفوذي شخصیت و. شهادت یې ځکه لویه غمیزه ده چې موږ په یو وخت له درو-څلورو تشو سره مخ کوي.

**تصانیف:**

شهید شیخ صاحب له بیخي ډېرو بوختیاوو سره سره ځینې ناچاپ اثار هم لرل هغه لکه:

۱: فضل من الله شرح کندیا.

۲: احسن التحقیقات فی إثبات الکواکب تحت السموات.

۳: تحفة الأناث في مسائل الحیض والنفاس.

۴: قلة البضاعة فی مسائل الرضاعة.

۵: الحواشي علی مسلم الثبوت.

۶:البضاعة المزجات فی إصلاح التجارات.

د دې تر څنګ یې په پښتو ژبه:

۷: د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولنیز ژوند.

۸: تصوف د شریعت په رڼا کې .

۸: د اعتکاف احکام.

۹: د اولاد اسلامي تربیه.

او ځینې نورې رسالې او ناچاپ کتابونه هم لیکلي چې ډېر ژر به چاپ ته وسپارل شي ان شاءالله.

# په پرونۍ اروپا کې پاکي

**لیکنه:ا،فرخاري**

کله چې د روم امپراتوري د عیسایانو لاس ته ولوېده، نو پاپانو په دې نیت،چې د تېرې زمانې اثرات له مسیحي ټولنې لرې کړي، له دې امله دوی به حمامونه بد ګڼل او دا به یې د پخواني رومي کافرو نښه بلله.

پادریانو به ویل: د انسان بدن نه پاکېږي؛ ځکه چې دا د ګناهونو مرکز دی، انسان باید خپل روح پاک کړي.

بیا ورو ورو په مسیحیانو کې دا فکر عام شو؛ چې څوک څومره مردار و خیرن ګرځي هومره خدای ته نژدی او متقي دی؛ تر دې چې که به چا په حمام کې ډېر وخت تېراوه دوی به هغه بد یاد و.

دوی به خیرن اوسېدل تقدس باله او خیرنتوب به یې د جرایمو په مخ کې خنډ ګاڼه د اروپا په سرو سیمو کې به خلکو چې د غسل کولو پرګرام ونیو؛ نو په یوه لګن کې به یې اوبه ګرمې کړې؛ لومړی به د کور مشر او ورپسې نورو په خپل نوبت په کې غسل کاو؛ چې وروستی کس به ماشوم و.

اروپایي بېوزلو به حمام ته تګ او لمبل یو خوب و خیال ګاڼه

ځینې تاریخ پوهان وایي: اروپایي بزګرانو به په کال کې دو ځلې لمبل

ځیني وایي: د دوی مخ به د باران له اوبو پرته نورې اوبه نه لیدې.

د ځینو په اند: غربیانو به په خپل ژوند کې درې ځل غسل کاوه: د پیدایښ؛ واده او د مړ کېدو په ورځ.

هغه وخت اروپا کې ځان مینځل عام عادت نه و؛نو مالدارو به په زېړ پرانۍ عطر وهل تر څو د بدن د بد بویې مخه ونیسي.

خو کله چې مسیحیانو بیت المقدس ونیو هلته یې مسلمانان ولیدل چې د صفایۍ ډېر اهتمام کوي؛ نو دوی هم ځان مینځل او صفایي پیل کړه او دا کلتور یې اروپا ته ولیږداوه ؛ چې بالاخره په اروپا کې ځان مینځل او حمامونو ته تګ عام شو؛ خو پاپانو به بار بار د دې کار مخالفت کاو او دا به یې د مسلمانانو او یهودو کار باله.

تر دې چې کله اندلس ونیل شو او ځینو مسلمانانو ظاهراً عیسایت ومانه؛ نو مسیحي استخبارات به پسې ګرځېدل چې غسل کوي او که نه؛ که به یې راپور مثبت و،نو دا به د مسلمانۍ نښه بلل کېده.

**د تاریخ ننداره ۴۰ ـــ ۴۶ مخونه**

# د خلکو غوره څوک دی!؟

**منیر فاروقي**

نن ورځ هر څوک دا وایي، چې زما قوم، ژبه، رنګ، لباس او داسې نور له پلانې او پلانکې خیلو غوره دی، زموږ نیکونو داسې توري کړي او پلانکې خیلو خو ټول عمر کې توره نه ده کړې، نو ځکه موږ غوره او بهتره یوو، خو الله جل جلاله ته هغه څوک غوره دی او هغه څوک په نورو برتري لري چې (ان اکرمکم عندالله اتقاکم) ژباړه: بې شکه په تاسو کې د الله په نزد غوره هغه څوک دی، چې تقواداره وي.

په یو صحیح حدیث کې راغلي، چې یوه ورځ حضرت ابوذر غفاري رضی الله تعالی عنه په څه خبره بلال حبشي رضی الله تعالی عنه ته غصه شو، ورته یې وفرمایل: اې د تورې مور زویه! په دې خبره بلال رضی الله تعالی عنه سینه ډکه شوه، په ژړا شو او داسې وویل چې زه به دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کوم.

کله یې چې د دوو جهانو سردار ته دا خبره وکړه، د هغه مبارک رنګ له غصې بدل شو او حضرت ابوذر ته یې وفرمایل: تا بلال ته د مور د رنګ پېغور ورکړی!

تا د هغه تحقیر کړی! تا کې تر اوسه د جاهلیت خوی موجود دی! د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خبرې سره د ابوذر رنګ والوت/بدل شو او ویې ویل:

یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته د بښنې دعا وکړه او بیا یې په ژړا د بلال رضی الله تعالی عنه د کور په لور منډه کړه، کله چې بلال رضی الله تعالی عنه ته ورسېده، خپل مخ یې پر ځمکه کېښوده او په ژړا کې یې ویل:

په الله جل جلاله سوګند/قسم کوم، چې خپل مخ به تر هغې له ځمکې پورته نه کړم؛ تر څو بلال رضی الله تعالی عنه خپله پښه زما پرمخ کېښودلې نه وي. اې بلاله! ته عزتمند یې او ابوذر ذلیل دی.

بیا بلال رضی الله تعالی عنه ولاړ شو او د هغه مخ یې راجګ او ښکل کړ او ورته یې وویل، څنګه به په هغه مخ پښه کېږدم، کوم مخ چې الله جل جلاله ته سجده کړې وي او بیا دواړه یو بل ته ورغاړې وتل او تر ډېره وخته یې سره ژړل.

را به شو خپل حال ته، چې د نن عصر مسلمانان څه کوي!

ایا کله مو دا فکر کړی، چې موږ په کوم حال کې یوو، څومره د یو بل تذلیل غواړو! کله د خپل مذهبي فرقې په خاطر، کله د خپلې سیاسي ډلې په خاطر، کله د رنګ او نسل په خاطر، کله د قومیت او عصبیت په خاطر، کله د سمتي او ژبنیز تعصب په خاطر، کله د شیخ او په پیر په خاطر او کله په رسنیزو شبکو کې، کله د اعمالو د کاذب غرور په خاطر داسې فکر کوو، چې الله تعالی موږ ته د تقوی ځانګړې شهادت پاڼه راکړې او کله د دنیوي مال او متاع په خاطر پر یو بل ځان غوره ګڼو. په ژوند کې ډېر کم داسې انسانان پیدا کېږي، چې د نورو څخه په کړې ګناه او غلطي ښښنه وغواړي او په خپلې کړې خطا اعتراف وکړي. د الله تعالی څخه به تل دا دعا غواړو، چې یا رب! موږ د قومي، سمتي، ژبني او داسې نورو بدو تعصبونو څخه وساتې او موږ ته غوره والی په تقوا سره رانصیب کړې. امین یا رب العلمین

## شعر و ادب

## رضای تو

**هلالی جغتایی**

نی از تو حیات جاودان می خواهم
نی عیش و تَنَعُّم جهان می خواهم

نی کام دل و راحت جان می خواهم
آنی، که رضای توست، آن می خواهم

روز و شب من به گفتگوی تو گذشت
سال و مه من به جستجوی تو گذشت

عمرم به طواف، گرد کوی تو گذشت
القصه، در آرزوی روی تو گذشت

## غزل

**محسن احسان**

په منځ کې د آذان او د لمانځه له سرې واخلي
قرار قرار تېرېږي وخت هر څه له سرې واخلي
د خوارۍ او بې وسۍ غزې چيغې په قسم دي
د سترګو له چينو ښځه اوبه له سرې واخلي
غربت هم عجيبه دی، وخت ناوخته داسې وي چې
ملګري د کلو کلو پاخه له سرې واخلي
په دې وجه وصال را باندې ګران په دې مې خوښ دی
دردونه د وجود د بېلتانه له سرې واخلي
ورو ورو دې د زوال کندې ته ورې محسن احسانه!
بدل دې کړي په سپينو؛ تور وېښته له سرې واخلي

# د اشرف خان هجري د شعر نوستالوژيک اړخ

**تاج محمد - دويمه او وروستۍ برخه**

**د خوشحال او اشرف موازنه**

که زندان ويارړ وګڼو نو دا ويارړ تر هجري مخکې دده د پلار خوشحال ختټک په نصيب شوی. خوشحال خان هم د مغولو په لمسه او د ترونو په بدرګه بندي شوی او همالته يې شاهکارې پنځونې کړي. فراقنامه يې له روه ليرې په رنتبور زندان کې ليکلې.

**اقربا راته عقرب شول**
**راضي مند مې په تعب شول**
**دواړه ترونه مې نااهله**
**ابوجهل بولهب شول**
**زه يې بند کړم په مغلو**
**په خانۍ او په منصب شول**
**خيلخانه مې شوه په غرونو**
**پرې کاروانه پيش عجب شول**
**نازپروره ځويه واړه**
**په فرياد او په شغب شول**
**چه يې نمر ليدلی نه وه**
**په ځنګلونو تشنه لب شو**
(ختټک،۱۹۸۳:۱۸)

په فراقنامه کې خوشحال خان د خپلې سيمې، خپلو خپلوانو، زامنو او خپلې خيلخانې ذکر ډېر کړی او ساندې يې پسې کړي. حتی په ځينو شعرونو کې د روه د سيمې کانې بوټې، د ښکار ځای، د روه د هوسيو، د روه د مرغانو او د ښکار د يارانو يادونه هم کوي او په چيغو چيغو پسې ژاړي. په دې حساب خوشحال د پښتو شاعرۍ لومړی محبوس او نوستالژيک شاعر دی.

د اشرف هجري په شاعرۍ کې مورږ متوجې کيږو چې دی له پلار سره په سيالۍ دی. دی که پلار شير بولي نو ځان هم تر شيربچه کم نه ورته برېښي. ده پتيېلې وه چې يوازې دی د پلار د تورې او تخت مستحق دی. خوشحال په فارسي شاعري کړې او د اشرف هجري هم فارسي شاعري شته. خو زه د خپلې مطالعې او د هجري د ديوان تر لوستو وروسته ويلی شم چې هجري د اوسطې سطحې شاعر دی. دده شاعري هغه زور او صلابت نه لري لکه د خوشحال او يا د شيدا شاعري يې چې لري. د خوشحال د ژوند او هنر جاج اخيستونکې ډاکټره خديجه بيګم هم په خپل کتاب کې راوړي: "اشرف هجري يو ښه شاعر باله شي ؛ خو دده شاعري د خپل پلار د شاعرۍ غونډې د تخيل هغه زور او رواني نه لري چې يو ښه شاعر ته ښايي. په ټوليزه توګه دده شاعري يو څه له تکلفه او پيچلتيا ډکه ده."(فيروزالدين،۱۳۸۷:۲۵۵)

همداراز د اشرف خان هجري پر ديوان پيش لفظ ليکونکی راج ولي شاه ختټک ليکي: "يوه لويه خوبي يې دا هم وه چې د عظيم شاعر خوشحال خان ختټک زوی وو.او شايد همدغه خوبي يې د شعر د نمر د تندر نيولو سبب شوی هم دی. د خوشحال ختټک په عصر کې هيڅ يو شاعر ددې جوګه نه ښکارېدو چې ددغه ستر روښانه نمر په موجودګۍ کې ځلا وکړي."(هجري،۲۰۱۱:۳)

هجري په نارسيسېزم هم اخته ښکاري. د نومورې شاعرانه تعليو ته سرې ګوته په غاښ شي؛ خو شعر يې بيا هومره قوت نه لري.

**زه حلال سحر بيشکه په اشعار کړم**
**ځکه هومره پخپل شعر افتخار کړم**
**په اشعار چې د فارسي سخنراني کړم**
**په لحد کې أرواح خوش د خاقاني کړم**
**د پښتو ژبې شاعر په دوران کوم دی**
**چې يې زه په دا هنر د ځان ثاني کړم**
(هماغه اخځ:۳۷۸)

استاد هيوادمل يې په اړه ليکي: "هجري د خپل پلار ستر ننګيالی -خوشحال ختټک- په باب په خپلې ويلې له تصلفه ډکې غزلې کې ويلي:

**که هر څو مې سيال د شعر ليده نشي**
**ولې زه طفل مکتب پدر استاد دی**

له دې بيته په صراحت ښکاري چې هجري پر خپلې شاعرۍ د ويارړ او بل چاته د نه نظر لرلو ترڅنګ خپل پلار استاد او ځان د مکتب طفل بولي، مګر غرور اجازه نه ده ورکړې او په ورپسې بيت کې يې ويلي دي:

د لرۍ د برۍ کار نشته په ميان کې
د بابا اشعار زما دا د بابا دی

په دې بيت کې اشرف خان خپله خبره کړې او دا يې ښوولې چې د دوی په منځ کې لروبر نشته دده "هجري" اشعار چې ښه دي دا يې د بابا او د بابا يې چې دده په عقيده لوړ نه دي دده دي"(هيوادمل، ۱۳۹۸:۲۹۷)

يو بله ګډه ځانګړنه چې پلار او زوی يې لري، هغه د زندان سختي ليدل دي. خو خوشحال په تور زندان کې هم باعزمه او له شوره ډک ښکاري؛ سپوږ يې له خولې نه خيژي. خو اشرف هجري لکه په ژوند کې چې ناکام و، همدا حال يې زندان کې هم دی. دا منو چې سياسي بنديان ښه ساتل کيږي؛ خو زندان زندان وي. د خوشحال په فراقنامه کې تر فراقه رندانه او واعظانه شاعري ډېره ده. ستر خوشحال په پوره معنا (سوپر مين) و. حتی ده دا مشهوره رندانه غزله هم رنتبور کې ويلې. هيڅ فکر نه کيږي چې يو بندي دې داسې شادوشامان وي.

په خوني هاتي سوره شوه مې پرسته
زه هم مست هاتي هم مست دی دا هم مسته

**ننداړو لره يې راشئ ننداړچيو**
**يوه لويه هنګاهه شوله پيوسته**

چې يې ستا زلفينې کښيوتې په لاس کښې
لاس يې پريوزه که يې دی پريږدي له دسته
د خوشحال په ځان د ډېرو غشي لک دي
خو هم ده زده چې دی مري د چا له شسته)
ختټک،۱۹۸۳:۲۸-۲۹(

او يا يې دا شعر ولولئ:

**ننګيالي د ننګ دپاره**
**په هر څه لګوي اور**
**سر په باد د سرې پريوځي**
**چه يې نه وي ژوندون نور**
**سر په دار لک شوی ښه دی**

نه لک شوی په پيغور (پورتنی اخځ:۱۶)

خو برعکس د هجري په شاعري کې د بيا راپورته کېدو شيمه نه ښکاري او نه يې بيا ځلې تورې ته د لاس کېدو ګواښ کړی. خوشحال په يو شعر کې د اشرف په شمول ټول زامن نامرد بللي.

اشرف خان به يو پرهار په ځان وانخلي
نه دا نوره دده مور چې دي زوولي

**پايله**

د پايلې په ډول په زغرده وايو چې اشرف خان هجري تر هر شاعر ډېره نوستالژيکه شاعري کړې. نومورې د روه(پښتونخوا) کانې، بوټې، غرونه رغونه ژړلي او پوره ځوارلس کاله يې له ديدنه محروم و. همدغه له دياره ليري والي د هجري شاعري له سوز او اهونو ډکه کړې.

بيا ځلې يې يادونه کوو چې تر هجري ورانديې خوشحال هم د زندان خواږه تراخه ليدلي اوڅکلي؛ خو د هغه حبسيه شاعري لږه او محدوده ده. نوستالژيک درد د ټولو انسانانو مشترک درد دی. دا طبيعي ده چې کډوال او جلاوطني په جلاوطنۍ کې د خپل وطن له ياد او خاطرو نه وي خلاص او يو ډول خوږ درد يې خوږوي. نوستالژي تېر هېر ياد ته وايي. په دې ډول شاعرۍ کې شاعران خپل تېر ته ځي او د هغو شېبو ارمان په اوس کې کوي. د اشرف خان هجري نږدې ټوله په زندان کې کړې، د زندان سختيو ځورولی او يوازيني دوست ((شعر)) ته يې پناه ور وړې. موږ د نوستالژيکې او يا د بديعيانو په اصطلاح د حبسيه شاعرۍ ويارړ ده ته ښنو او همدی د پښتو د نوستالژيک شعر استازی شاعر يادوو.

**ماخذونه:**


۱ـ جهاني، عبدالباري.(۱۳۹۶). د پښتو شعر هنداره. کابل: اکسوس خپرندويه ټولنه.
۲ـ ختټک، افضل خان ختټک(۲۰۰۶). تاريخ مرصع. مقابله، تصحيح او نوټونه: دوست محمد کامل مومند. پېښور: يونيورسيټي بوک ايجنسي.
۳ـ ختټک، خوشحال ختټک.( ۱۹۸۳). فراقنامه. مقدمه، حاشيه او لټون: هميش خليل. پېښور: قامي مکتبه.
۴ـ ډارمسټټر، جيمز.(۱۳۵۶).د پښتونخوا د شعر هاروبهار. مهتمم: حبيب الله رفيع. کابل: پښتو ټولنه.
۵ـ شيدا، کاظم خان.(۱۳۳۱). د کاظم خان شيدا ديوان. مدون، مصحح او مقابله کوونکی: عبدالروف بېنوا. کابل: پښتو ټولنه.
۶ـ فيروزالدين، خديجه بيګم.(۱۳۸۷) خوشال خان ختټک ژوند او هنر. ژباړه: اجمل ښکلی. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.
۷- کرګر، اکبر. (۱۳۹۷). پښتو شعر او تېر ارمان. جلال اباد: هاشمي خپرندويه ټولنه.
۸- منګل، ګلاب.(۱۳۹۶). د پښتو حبسيه شاعري. کابل: اکسوس خپرندويه ټولنه.
۹- هجري، اشرف خان.(۲۰۰۱). د اشرف هجري ديوان. پېښور: پېښور يونيورسيټي.
۱۰- هيوادمل، زلمی.(۱۳۸۹). فرهنګيالی خوشحال(د مقالو ټولګه). کابل: دانش مطبعه.


# درخشش فرهنگی و هنری شهرکهنه کابل

**نوری**



شهرکهنه کابل دردرازای تاریخ از درخشش فرهنگی وهنری برخورداربود، دانشمندان،نویسندگان، مؤرخان و اراکین عالی رتبه دولتی دراین مکان زندگی می‌کردند. وقتی درباره شهرکهنه صحبت می‌شود این نام با کابل گره خورده است. شهرکهنه مرکزفرهنگ و تمدن بود، نویسندگان و دانشمندان زیادی راتقدیم جامعه کرد. کابل و کابلستان قدامت چندین هزار ساله دارد. اگر ما به دیواری که بالای کوه آسمایی ساخته شده نظراندازیم برای ما قدامت کابل و شهرکهنه هویدا می‌شود. این دیوار که در دوره‌های کوشانیان ساخته شده، درکتاب‌های تاریخی کشورما از آن تذکر به عمل آمده است.این دیوارطویل بیشترازیک هزار و پنجصد سال قبل قدامت تاریخی دارد. شهرکهنه درنزدیکی دیوارآسمایی وشیردروازه موقعیت دارد.دیوارآسمایی به خاطر محافظت شهرکابل و هجوم اقوام بیگانه ایجاد شده بود،که نقش مهم درمحافظت کابل ایفاکرده است.کابل با پیشینهٔ چندین هزارساله یکی ازولایت های تاریخی وفرهنگی افغانستان میباشد.مردم کابل ازنظرفرهنگ وتمدن درطول تاریخ ازعظمت وجلال بسیاربرخورداربودند. ولایت کابل ازنظرموقعیت اقتصادی وجغرافیایی درجایگاه ی عالی قرارداشت.همین اهمیت اقتصادی وجغرافیایی خوب اش باعث شد که توجه احمد شاه ابدالی بنیان گذار افغانستان و بعداً پسرش تیمورشاه راجلب کند و این ولایت پرعظمت رابه پایتخت افغانستان که یک نام ونشان عالی است مبدل ساخت.تیمورشاه پایتخت راازقندهاربه کابل انتقال داد و اهمیت ولایت کابل رادوچندان ساخت.شهرکهنه کابل که زمانی کانون فرهنگ وتمدن بود دراثرسپری شدن قرن‌ها وجنگ‌های مدهش به یک ویرانه مبدل شد.کابل و به خصوص شهرکهنه نیازمبرم به بازسازی ونوسازی دارد که دوباره عظمت وجلال گذشته خودرابه دست بیاورد.

چندروزقبل معین وزارت اطلاعات و فرهنگ در نشست کمیته حفاظت و نظارت آبدات تاریخی، ساحات عامه و محیط زیست به رسانه ها گفته که حفاظت و نگهداری از آبدات تاریخی و معماری شهر کهنه کابل که امانت نیاکان، هویت و تاریخ کشور ما است باید باهم از آن حفاظت نماییم. درهمین ارتباط نشست کمیته حفاظت و نظارت آبدات تاریخی، ساحات عامه و محیط زیست در معینیت فرهنگ و هنردایرشده بود.در این نشست مولوی عتیق الله عزیزی معین فرهنگ و هنر وزارت اطلاعات و فرهنگ،رئیس فرهنگی شاروالی کابل، نمایندگان و مسئولان موسسه خدمات فرهنگی آغاخان، وزارت شهرسازی، اداره محیط زیست و ریاست حفظ آبدات تاریخی اشتراک داشتند.در این نشست پیرامون حفاظت و استحکام ساختمان حوزه اول نزدیک باغ تیمور شاهی شهر کابل که یکی از آبدات تاریخی می‌باشد و ساختمان‌های چند منزله یی که نظاره آبدات تاریخی را به خطر می‌اندازد، بحث همه جانبه صورت گرفت.اسناد تاریخی ونوشته ها نشان می‌دهد که با ظهور اسلام، مسلمانان در سال ۸۱ هجری کابل را تصرف کردند وزمامدار کابل به «گردیز» فرار کرد و پس از مدتی تجدید قوا نموده و دوباره به کابل بازگشت.شهر کابل پس از ظهور اسلام توسط زمامداران بومی و محلی اداره می‌شد و این وضع تا زمان حکومت «صفاریان» نیز ادامه داشت. میرغلام محمد غبارمؤرخ شهیر کشور در کتاب جغرافیای عمومی افغانستان می‌گوید: «تا زمان صفاریان هیچ یک از فاتحان عرب به فتح حقیقی کابل و بلاد «هندوکش» کامیاب نشدند که بتوانند بر کابل حکومت کنند؛ اما مردم این شهر خود به تدریج به دین اسلام گرویدند.» پس از شکست «امویان»، شهر کابل توسط حاکمان محلی که تحت حمایت مسلمانان بود اداره می‌شد و این وضعیت تا زمان حکومت صفاریان ادامه داشت.در این دوره اعراب به گرفتن خراج اززمامدار کابل قناعت کردند و فقط «یعقوب لیث» مؤسس سلسله صفاریان در قرن نهم بعد از میلاد توانست در نتیجه جنگ‌های سختی که انجام داد، «کابلستان»، «غزنی»، «بلخ» و « کابل» را ضمیمه ممالک اسلامی کند و همین یعقوب بود که اززمامدار گردیز خراج گرفت.به تدریج حکومت صفاریان در کابل رو به ضعف نهاد و ...

ص٦

# درخشش فرهنگی وهنری...

پس از روی کار آمدن سلسله غزنویان در سال ۳۴۴هجری، کابل به تصرف غزنویان در آمد. با توجه به اینکه غزنویان شهر غزنی را به عنوان پایتخت خود انتخاب کرده بودند، به تدریج از اهمیت شهر کابل کاسته شد و شکوه گذشتهٔ خود را از دست داد و این روند در زمان حکومت تیموریان که پایتخت آنها هرات بود، نیز تکرار شد. سکه دوره غزنویان به نام سلطان محمود غزنوی ضرب شده است. پس از سقوط تیموریان، بابر شاه بر کابل مسلط شد.باغ‌های کابل ۲ باغ بزرگ «جهان آرا» و «شهر آرا» نیز در همین دوران به وجود آمد. مؤرخ آصف آهنگ در کتاب کابل قدیم میگوید:«زمانی که «تیمورشاه» پسراحمدشاه درانی پایتخت را از «قندهار» به کابل انتقال داد، شهر کابل مرکز قدیم «کابلستان» یکبار دیگر سر از خواب گران چندین قرنه بلند کرد و به جنب و جوش افتاد.»کابل در زمان هجوم مغولان هند از شهرهای زیبای افغانستان بوده وهمچنان شکارگاه شاهان مغولیه و پایتخت تابستانی «بابر» مؤسس دولت «مغولیه» هند بود. برروایت تاریخ،زیبایی کابل به حدی بود که، «صائب تبریزی» شاعر معروف قرن یازدهم وقتی به دعوت شاه مغول راهی هند شد، از طریق کابل به آنجا رفت و چندی در کابل مهمان بود، وی یک قصیده خواندنی در وصف کابل سرود.ما به همین مطلب کوتاه اکتفاء می‌کنیم وبه اصل موضوع کابل وبازسازی شهرکهنه می پردازیم. شهرکهنه که دراثرجنگ ها وحوادث طبیعی به یک مخروبه مبدل شده وکهنگی آن چشم‌ها را خیره می‌سازد به بازسازی ونوسازی نیازدارد که دوباره رونق فرهنگی وتاریخی گذشته خودراپیدا کند.به هرپیمانه که مابه بازسازی ونوسازی شهرکهنه بیاندیشم ودست به کارشویم به عظمت وجلال این شهرمی‌افزاییم. تلاش‌های وزارت اطلاعات وفرهنگ امارت اسلامی درزمینه بازسازی شهر کهنه همراه با میراث های فرهنگی وتاریخی آن امیدواری‌ها را زیاد می‌کند.

# افغان اعلانات

### اطلاعیه ریاست عمومی املاک دولتی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه به تعداد(۱۰) باب دوکاکین ذیل واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شارولی کابل را طور جداگانه از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته به اعلان می سپارد.

۱. یکباب دوکان نمبر۱ بمساحت ٦/٤٨ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (١٤٦٤٤) افغانی.

۲.یکباب دوکان نمبر۲ بمساحت ۷/۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (١٥٥٥٧/٨٥ ) افغانی.

۳.یکباب دوکان نمبر۳ بمساحت۷/۰۲مترمربع واقع مندوی کابل طاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(١٦٣٩٧/٨٥) افغانی.

٤. یکباب دوکان نمبر٤ بمساحت ۷/۰۲مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(١٥٥٥٧/٨٥) افغانی.

٥. یکباب دوکان نمبر٥ بمساحت۷/۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهرشاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (١٣٣٠٢) افغانی.

٦.یکباب دوکان نمبر٦ بمساحت۷/۰۲مترمربع واقع مندوی کابل ظاهرشاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ١٥٦١٧) افغانی.

۷. یکباب دوکان نمبر۷ بمساحت ۷/۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (١٦٣٩٧/٨٥) افغانی.

۸.یکباب دوکان نمبر۸ بمساحت۷/۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (١٥٦١٧) افغانی.

۹. یکباب دوکان نمبر۹ بمساحت۷/۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(١٥٦١٧ ) افغانی.

۱۰.یکباب دوکان نمبر۱۰ بمساحت ۷/۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(١٥٥٥٧/٨٥) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩/١٧٧٥٦/٣٤/٥١٧١

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ ۲۰ثور/ ۱۴۰۳ الی ۹/جوزا / ۱۴۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینماپامیرتعمیر ١٤منزله، منزل ٥، مدیریت عمومی ارزیابی قراردادهای مرکز، شماره تماس(٠٢٠٢٩٢٤٦٢٧٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧-٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧)، تاریخ مجلس آفرکشایی ۱۰ / جوزا / ۱۴۰۳ به ساعت(۱:۳۰) بعد از ظهر برگزار میگردد

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت خوست پکتیا لمتید یک عراده موتر پلیت ۲۵۳۱۴ ل کابل نوع هینو جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای بسم الله خان فرزند غلام خان بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۰۰۴

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوید احمدعی لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۴۹۴۵- ۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالغفار فرزند محمد جان بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۰۴۸

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم جان آغا فرزند شاه محمد یک عراده موتر پلیت ۹۳۷۵۹- ۵ ش کابل نوع تیوتا لکسیز پردو جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عصمت الله فرزند حاجی نور گل بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۰۳۷

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت ارشاد شمس لمتید یک عراده موتر پلیت ۳۴۶۹۶ ش کابل نوع هینو جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای بسم الله خان فرزند غلام خان بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۰۰۵

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حکمت اسرار لمتید یک عراده موتر پلیت ۴۳۱۴۴ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای مرزا خان فرزند عیسی خان بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۰۱۷

***

### اطلاعیه تغییر اسم دواخانه

محترم (عبداواحد) فرزند (سلام الدین) ولدیت (رجب باقی) دارنده تذکره نمبر ( ۱۱۶۵۲۹۹۹ ) ( ج دوم ق ۱۳۸۵ ص ۲ ث ۱۰ ) مسکونه اصلی ولایت (بلخ) مالک امتیاز دواخانه ( هاشمی زاده) واقع ناحیه (سوم) ولایت (کابل) عنوانی این اداره عارض و خواهان تغییر اسم دواخانه خویش از (هاشمی زاده ) به اسم (سلامتی عصری) گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت سه روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۱۰۱۰

***

### اعلان اجاره دهی زمین

موازی (۲) جریب زمین امارتی واقع ساحه (شیر خان کځ) ولسوالی سروبی برای مدت (۱۰) سال آماده اجاره دهی میباشد اشخاص و افرادیکه خواهش گرفتن ساحه قوی را داشته باشد (۲۱) یوم بعد از نشر اعلان به مدیریت اراضی سروبی مراجعه نمایند شرایط نامه را ملاحظه نمایند.

۱۰۱۵

***

### اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم محمد عارف زارع فرزند سلیمان زارع ولدیت سلطان زارع دارنده تذکره نمبر ( ۴۴۵۱۸- ۰۴۰۶- ۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت هرات مالک امتیاز دواخانه شعیب عصری واقع ولسوالی انجیل ولایت هرات عنوانی این اداره عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد. ۱۰۷۰

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوی اریوب سپین غر لمتید یک عراده موتر پلیت ۴۳۴۵۶-۴ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای دل آقا فرزند داود شاه بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.۱۰۰۱

***

### اعلان فابریکه

(یک نقل محضر هییت موظف غرض تطبیق حکم قطعی محکمه مبنی بر فروش سهم اسامی محمود سرورزاده ولد غلام رضا رییس تشبث ادویه سازی کیمیاگر دارنده جواز نمبر (D - 2215) معه ماشین الات ووسایل آن بالای محترم عبدالمبین رحمانی فرزند عبدالرحمن دارنده تذ کره نمبر ( ۱٤۰۰ - ۰۰۳۷۸ - ۰٤۰۱) که ذریعه مکتوب شماره (١٦/٨٨٦) مورخ ( ١٠/٠٢/١٤٠٣ ) آمریت تطبیق احکام قطعی محاکم در امور مدنی ریاست حقوق ولایت کابل مواصلت ورزیده).

اشخاص موسسات و دوایر دولتی که بالای فابریکه متذکره ادعایی داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به ریاست اداره ملی غذا و ادویه افغانستان وقع محمد جان خان وات مراجعه نمایند.

۴۰۰

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله شرعی دارای نمبر۲۷۱ /۲۹۴ مورخ ۱۳۸۱/۴/۲۹ مرتبه محکمه وثایق شهر نور واقع شهر نو کابل به اسم سردار محمد یونس فرزند سردار غلام فاروق ولدیت سردار محمد عثمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۱۰۲۸

***

### اطلاعیه

ریاست تدارکات وزارت صنعت و تجارت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید، تا در پروسه داوطلبی باز داخلی پروژه های (فوق الذکر) سال مالی ۱۴۰۳، این وزارت اشتراک نموده و یک نقل شرطنامه های مربوطه را از ریاست تدارکات وزارت صنعت و تجارت بعد از نشر اعلان هذا الی :

- (۲۱) یوم از پروژه قرطاسیه باب.
- (۲۲) یوم از پروژه رنگباب پرنترها وماشین های فوتوکاپی.
- (۲۳) یوم از پروژه پرزه جات وسایط نقلیه.
- (۲۴) یوم ازپروژه تجهیزات کمپیوتری.

۵ -(۲۵) یوم از پروژه وسایل ساختمانی را بدست آورده و آفر های سر بسته خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات در ریاست تدارکات این وزارت واقع سرک دارلامان کارته سه متصل تعمیر اسبق شواری ملی ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیریش نمی باشد.

تضمین آفرها به صورت پول نقد و یا بانک گرنتی از پروژه (رنگباب پرنتر و ماشین های فوتوکاپی) مبلغ (۷۰،۰۰۰) هفتاد هزار افغانی و از پروژه (قرطاسیه باب و لوازم اولیه دفتر) مبلغ (۳۰،۰۰۰) سی هزار افغانی از پرزه جات وسایط مبلغ(۷۰،۰۰۰) افغانی از پروژه تجهیزات کمپیوتری مبلغ(۳۰،۰۰۰) افغانی و از پروژه وسایل ساختمانی مبلغ(۲۵،۰۰۰) افغانی بوده و جلسه های آفر گشایی به تاریخ معینه مندرج شرطنامه در ریاست تدارکات تعمیر الحاقیه منزل چهارم اتاق آفرگشایی تدویر می گردد در صورتیکه تاریخ آفرگشایی یکی از پروژه های فوق به روز رخصتی مصادف گردد در اولین روز کاری بعد از رخصتی آفر گشایی صورت می گیرد.۱۰۲۱

***

### اطلاعیه مفقودی

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم سلیم شاه فرزند سید الرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۱۰۱۸

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله شرعی دارای نمبر ۶۵/۲۶۱ مورخ ۸/ ۱۳۸۸/۱۰ مرتبه محکمه ولسوالی ده سبز ولایت کابل موازی ۲ جریب زمین واقع پل چرخی مقابل حربی پوهنتون به نام های محمد عظیم فرزند محمد هاشم ولدیت نورعلی و محمد نادر فرزند مرزا محمد ولدیت برات محمد به تاریخ ۱۴۰۳/۲/۱۸ مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۱۰۱۳

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز دارای نمبر ۳۳۹۳ به اسم دکار خواک موسسه مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۱۰۴۷

***

### دعوت به داوطلبی

نام پروژه : تهیه سویچگیر های جدید برای سب ستیشن شمال غرب

د افغانستان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی(تهیه سویچگیر های جدید برای سب ستیشن شمال غرب) دارای کود نمبر) برشنا /۱٤۰۳/باز ملی/اجناس-۰۹) اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت قرارداد ها بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱٤۰۳/۰۳/١٦ به ریاست تهیه و تدارکات دافغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارایه نمایند آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد .

۱-تضمین آفر : مبلغ ۹۰٦,۲٤۰ افغانی

۲- آفر گشایی: جلسه آفر گشایی روز چهار شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱٤۰۳/۰۳/١٦ برگزار میگردد.

۳-آدرس و محل آفر گشایی : منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تهیه و تدارکات.

٤- آدرس اداره : د افغاستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید. شماره تماس: ۰۲۰۲۵۱۳٦۷۷

آدرس الکترونیکی : saber.t@dabs.af abduljalal.hasas@dabs.af

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (2) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود:

ریاست تدارکات ملی اداره امور ا.ا.ا به نماینده گی از ریاست عمومی استخبارات در نظر دارد پروژه: تهیه و تدارک دو قلم تیل دیزل و پطرول ضرورت جنراتور ها و وسایط ریاست عمومی استخبارات دارایی شماره داوطلبی NPD/GDI/1403/NCB/G-001 را به داوطلب ذیل اعطا نماید:

| شماره | اقلام | نام داوطلب | نمبر جواز فعالیت داوطلب | آدرس داوطلب | قیمت مجموعی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | (تیل دیزل ۶۲-L۰۲) | افغان تکسار لمیتد | 1111-18331 | چهاراهی حاجی یعقوب، ناحیه ٤ مرکز کابل | حداقل ۳۲,۲۳۸,۰۰۰ (سی و دو میلیون و دو صد و سی و هشت هزار افغانی) حداکثر ۳۵,۸۲۰,۰۰۰ افغانی ( سی و پنج میلیون هشت صد و بیست هزار افغانی) |
| ۲ | (تیل پطرول ۹۲-A) | افغان تکسار لمیتد | 1111-18331 | چهاراهی حاجی یعقوب، ناحیه ٤ مرکز کابل | حداقل ٤٥,۳۷۲,۰۰۰ (چهل و پنج میلیون سه صد و هفتاد و دو هزار) حداکثر ٥٠,١٤٨,٠٠٠ (پنجاه میلیون و یک صد و چهل و هشت هزار افغانی) |

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات به ریاست تدارکات ملی ارائه نمایند.

آدرس: آمریت تسهیلات تدارکاتی، معاونیت تخنیکی، ریاست تدارکات ملی، ریاست عمومی اداره امور، پشتونستان وات، کابل - افغانستان.

یادداشت: این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

**Shariat** Daily

# Shariat

**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0711900400
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

# شریعت

د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۷۱۱۹۰۰۴۰۰
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوي ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Thursday 09 May 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 448


## مولوي امیرخان متقي:

# پر بشري مرستو متکي افغانستان نه غواړو



د ملګرو ملتونو د مشورتي کمېټې ۲۱ غړو او یوناما په کابل کې د بهرنیو چارو له سرپرست وزیر سره کتلي دي.

د بهرنیو چارو وزارت په یوې خبرپاڼه کې ویلي چې په دې کتنه کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان پر استازیتوب، د بشري مرستو پر اغېزمنتیا او په افغانستان کې د پرمختیایي پروژو پر ملاتړ خبرې شوې دي.

خبرپاڼه کاږي چې په دې کتنه کې مولوي متقي پر نشو د روږدو کسانو د درملنې، د یتیمانو مالي ملاتړ، خصوصي سکتور کې د ښځو پر فعالې ونډې او نورو مسایلو توضیحات ورکړي دي. ۷مخ

## تېره اداره کې د خوړو او درملو اداره بشپړه فلج وه



د افغانستان د خوړو او درملو ملي ادارې، پرون په کابل ښار کې شاوخوا ۲۵ ټنه تاریخ تېر او بې‌کیفیته خوراکي توکي له منځه یووړل.

د باختر آژانس خبریال د خبر له مخې؛ د افغانستان د خوړو او درملو ملي ادارې، د خوړو د خوندیتوب عمومي رئیس ډاکټر نعیم الله ایوبي رسنیو ته وویل چې د افغانستان د خوړو او درملو ملي ادارې، د خوړو د خوندیتوب عمومي ریاست د ټیمونو د څارنې په بهیر کې د کابل ښار له بېلابېلو ناحیو څخه شاوخوا ۲۵ ټنه خوارکي توکي چې بسکوېټ، ... ۷مخ

## اشتراک سفیر افغانستان در کنفرانس بین‌المللی رهبران دینی در مالیزیا



سفارت کبرای امارت اسلامی افغانستان در کوالالمپور مالیزیا، از اشتراک سرپرست این سفارت در کنفرانس بین المللی رهبران دینی خبر داده است.

این سفارت در خبرنامه‌ی... ص۷

## مسابقات مشت‌زنی جوانان آسیا؛

# افغانستان نایب قهرمان شد

در ادامه رقابت‌های مشت‌زنی جوانان آسیا، قیس علی‌زاده، ورزشکار افغان توانست نایب



قهرمانی این رقابت‌ها را بنام افغانستان ثبت کند.

آقای علی‌زاده در دیدار نهایی رقابت‌های یادشده در برابر حریف‌اش از قزاقستان تن به شکست داد.

رقابت میان علی‌زاده و حریف‌اش در شهر آستانه قزاقستان، برگزار شده بود. ص۷

## د میرزکې اوسېدونکي په شخصي لګښت سړک جوړوي



د پکتیا د میرزکې ولسوالۍ اوسېدونکو په شخصي لګښت د یوه سړک د جوړونې کارونه پیل کړي دي.

د پکتیا د میرزکې ولسوالۍ اړوند کرکین درې اوسېدونکو په شخصي لګښت له غونځۍ کلي څخه تر کرکین درې د یو سړک جوړلو چارې پیل کړې دي. ځایي اوسېدونکي وایي، چې دې سیمې ته لار د خوړ په منځ کې تېره شوې، چې د واورو، بارانونو ورېدو، پسرلي اوبو زیاتېدو... ۷مخ

## لوګر کې یو شمېر مهمات نیول شوي

لوګر کې د ۲۰۳ منصوري قول اردو د څلورمې پلې لوا د کشف استخباراتو آمریت له لوري یوشمېر مهمات او وسلې نیول شوي دي.

د ۲۰۳ منصوري قول اردو د څلورمې پلې لوا د رالیږل شوي خبرپاڼې له مخې، د یاد لوا کشفي منسوبینو د برکی برک،... ۷مخ

## تلاش برای ایجاد فضای مناسب درسی برای هزاران شاگرد درخوست



با ساخت تاسیسات جدید برای چهارمکتب، هزاران شاگرد در خوست، به فضای مناسب درسی دست خواهند یافت.

این تاسیسات، به هزینه ی هشت میلیون افغانی ازسوی بانک جهانی، ساخته می شود.

مولوی محمد عثمان حریت رئیس معارف خوست به آژانس باخترگفت که با ساخت این تاسیسات برای مکاتبی در میدان شهر... ص۷

## د نورستان مستوفیت تېرکال څه باندې ۶۵ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي

د نورستان مستوفیت مسوولین وایي، چې یاد مستوفیت په تېرمالي کال کې ۶۵ میلیونه ۵ سوه زره افغانۍ عواید راټول او د دولت خزانې ته سپارلي دي.

د نورستان مستوفیت د عوایدو آمر مولوي احمد الله حماد د باخترآژانس خبریال... ۷مخ




## توزیع کمک‌های بشردوستانه برای ۱۶ هزار خانواده در ۳ ولایت شد



وزارت احیاء و انکشاف دهات می‌گوید، در ادامه توزیع کمک‌های بشردوستانه به خانواده‌های نیازمند در کشور، برای حدود ۱۶ هزار خانواده در سه ولایت کشور، کمک‌های بشری توزیع شده است.

این وزارت با نشر خبرنامه‌های جداگانه از توزیع این... ص۷

# رویدادهای خارجی

## د امریکا د څارګرې ادارې مشر له نتانیاهو سره کتلي

قاهره کې د اوربند تر ناکامو خبرو وروسته د امریکا د څارګرې ادارې (سي ای اې) مشر له نتانیاهو سره کتلي.

داسې حال کې چې غزه کې د رفح پر ښار د صهیونست پوځ عملیات روان دي، د امریکا د استخباراتي ادارې سي ای اې مشر ویلیم برنز پرون د اسراییلو له لومړي وزیر نتانیاهو سره کتلي دي.

د رسنیو د راپورونو له مخې ښایي د خبرو ډېره برخه یې مصر کې د ښکېلو لوریو ترمنځ د اوربند په اړه وي.

ورته وخت کې د حماس یو ویاند اسامه حمدان له امریکا څخه غوښتي، چې نتانیاهو د اوربند په اړه خبرو ته قانع کړي.

دغه راز اسرایلو کې دننه او بهر زرګونو کسانو پر رفح ښار د برید پر ضد او د اوربند په اړه د حماس د پرېکړې په ملاتړ لاریونونه کړي او له اسرایلي رژیم څخه یې غوښتي، چې خبرو ته غاړه کېږدي.

باید وویل شي چې ښایي د مصر، قطر، امریکا، حماس غورځنګ او صهیونست رژیم استازي بیا ځلې په قاهره کې د اوربند په اړه یوې هوکړې ته د رسېدو لپاره خبرو ته کیني.

## تأکید وزیر خارجه ازبیکستان بر تسریع پروژه‌ی ترانس افغان

وزارت خارجه پاکستان اعلام کرده که معاون نخست وزیر و وزیر خارجه این کشور در دیدار با بختیار سعیدوف، وزیر خارجه ازبیکستان خواستار تسریع روند پروژه راه‌آهن ازبیکستان ـ افغانستان ـ پاکستان (ترانس افغان) شده است.

این وزارت با نشر خبرنامه‌ی گفته که این دیدارها به منظور گسترش روابط بازرگانی دوجانبه، سرمایه‌گذاری و پروژه‌های ارتباطی گفت‌وگو شده است.

در خبرنامه‌ی آمده است وزیرخارجه ازبیکستان در این دیدار بر تسریع تلاش‌ها برای تطبیق هرچه زودتر پروژه راه آهن ازبیکستان-افغانستان-پاکستان یا (ترانس افغان)، تاکیده کرده است.

گفتنی است که طرح احداث خط آهن افغان ترانس میان افغانستان، پاکستان و اوزبیکستان برای ایجاد شاهراه اقتصادی با هزینه بیش از چهارو نیم میلیارد دالر در سال ۲۰۱۸ ارائه شد.

## سیلاب در برازیل ۹۰ تن کشته و بیش از ۱۳۰ تن ناپدید اند



بربنیاد گزارش‌ها، در نتیجه سرازیر شدن سیلاب مرگ‌بار در برازیل حداقل ۹۰ تن جان باخته و ۱۳۱ تن دیگر، ناپدید شده‌اند.

این سیلاب بیشتر تلفات و خسارات را در ایالت «ریو گرانده» در جنوب برازیل به بار آورده است.

مقام‌های محلی گفته‌اند که در نتیجه سیلاب در برازیل حدود ۱۵۵ هزار تن بی‌خانمان شده‌اند.

در حال حاضر آسیب‌دیدگان در فضای باز و در روی جاده‌ها شب‌وروز می‌گذرانند و به غذا و آب نیاز فوری دارند.

لوئیز ایناسیو لولا، رییس جمهوری برازیل در مورد این رویداد طبیعی گفته که تا فروکش نکردن بارندگی‌ها و مقدار آب در مورد آمار مجموعی میزان خسارات چیزی نمی‌توان گفت.

از یک هفته به این‌سو بارندگی‌های سیل‌آسا در برازیل جریان دارد.

طغیان رودخانه‌ها، آب‌گرفته‌گی و تخریب جاده‌ها چالش‌های ایجاد شده در پی این بارندگی‌ها بوده است.

## روسیې پر اوکراین ۵۰ توغندي توغولي

روسیې د اوکراین پر شپږو سیمو څه باندې پنځوس توغندي او شل بې پیلوټه الوتکې توغولي دي.

د ازادي راډیو د خبر مرکزي څانګې لیکلي چې تېره شپه د څو ساعتونو لپاره د پلازمېنې کیف په ګډون په یوشمېر ښارونو کې د خطر زنګ اورول شوی دی.

د اوکراین د انرژۍ وزیر هیرمن هلوس چینکو دغه بریدونه د انرژي پر صنعت بل لوی ګزار بللی دی.

د راپورونو له مخې، د تېرې شپې په بریدونو کې یوشمېر تاسیساتو ته زیان اوښتی دی، خو د احتمالي مرګ ژوبلې شمېر لا نه دی اعلان شوی.



## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!